د افغانستان اسلامي امارت
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs

# ستوری

دور جدید، شماره اول و دوم، خزان/زمستان ۱۴۰۱



## بهرنی سیاست یو باریک فن دی او په دې برخه کې ډېر احتیاط ته اړتیا ده

## FOREIGN POLICY IS AN INTRICATE ART AND MUCH CAUTION IS REQUIRED IN THIS FIELD

FM MUTTAQI

### د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست

- اسلام اصله سیاست
- خپلواک سیاست
- متوازن سیاست
- اقتصاد محوره سیاست
- د عدم مداخلې سیاست
- د متقابل درناوي سیاست
- نړیوال نظام کې د ګډون سیاست
- نړیوال امنیت ته ژمن سیاست
- بشري حقونو ته ژمن سیاست

دفتر سخنگو و ریاست اطلاعات عامه
وزارت امور خارجه
چهارراهی ملک اصغر، کابل - افغانستان
وبسایت: mfa.gov.af
ایمیل: spoks.office@mfa.af
شماره تماس: ۰۰۹۳۲۰۲۱۰۰۳۷۲

د افغانستان اسلامي امارت
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs

# یادونه:

د مجلې اداره د لیکنو په سمون او اوډون کې واک لري.
د ستوري مجلې اداره د لیکوالانو د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنيزو لیکنو هرکلی کوي.
د بهرنیو چارو وزارت د ویاند دفتر او عامه اړیکو ریاست سره ددې مجلې بشپړ حقوق خوندي دي.
هغه لیکنې چې د لیکوال نوم ورسره یاد شوی وي، د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي اندونو استازیتوب نه کوي.
د سرچینې په یادولو سره؛ د مجلې د لیکنو اخیستل اجازه لري.
ستوری مجله په وړیا توګه وېشل کېږي.

فصلنامه ستوری دوره جدید، شماره اول و دوم، خزان/زمستان ۱٤۰۱
صاحب امتیاز: وزارت امور خارجه امارت اسلامی افغانستان
مدیر مسئول: عبد الرشید ساپی
هیئت تحریر:
مفتي نور الله عزام، حافظ ضیاء احمد تکل، دکتور محمد فیصل، نقیب الله احمدي، سید نذیر احمد هاشمي او محمد ادریس نبیل.
طراح مجله: احمد شاکر شکوری و شمس الرحمن شیرزاد
ایمیل ادرس: publications@mfa.gov.af
وبسایت: mfa.gov.af
شماره تماس: 0093202100372

## ددې ګڼې مطالب:

- د انټالیا فورم ته د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان (متقي) وینا
- د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون IFRC د آسیا پاسیفیک حوزې مشر الکساندر ماتیو د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره کتنه
- د چین او جنوبي آسیا ترمنځ د اقتصادی همکاریو، تجارت او پانګونې شپږم نندارتون پرانیست غونډې دریم فورم ته د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان (متقي) وینا
- د تېر په پرتله د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي، خان وژنې، اختطاف او شکنجې کچه صفر ته راټیټه شوې (د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین الحاج شیر محمد عباس (ستانکزی)
- د اسلامي امارت بنسټګر مرحوم ملا محمد عمر "مجاهد" رحمه الله
- د اسلامي امارت بیا خلې واکمنې
- اسلام نړی ته څه وړاندې کړل؟
- له اسلام څخه د سیاست او حکومتولی زده کړه
- د اسلامي امارت د بهرنې سیاست مهمو اصولو ته کتنه
- بررسی روابط اقتصادی پاکستان با امارت اسلامی افغانستان
- څنګه کولای شو چې افغانستان په اقتصادي ځلور لارې بدل کړو؟
- اهمیت پروژه تاپـــی
- د اسلامي امارت بهرنی سیاست، لاسته راوړنې، کورنې او بهرنې موضوعات
- بهرنیو ژورنالستانو ته د راتګ او راپور جوړونې لپاره آسانتیاوې برابرې شوې
- د افغانســتان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي ژوند لیک
- بیوګرافی شیر محمد عباس ستانکزی معین سیاسی امارت اسـلامی وزارت امور خارجه
- د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د اداري معین رحمت الحق فضیل ژوند لیک

# یادونه:

د ستوري مجلې نوې ګڼه بیا ځل په داسې حال کې پیلیږي،چې له هېواده امریکایي ښکېلاک د شل کلن اشغال ټغر ټول شوی، او د خپلواکۍ لمر د هېواد په ټول قلمرو خپلې پلوشې غوړولې، افغان ملت د شلو کالو له زخمونواو ربړونو او کړاونو تازه د ارام ساه اخیستې.

په داسې حال کې چې اسلامي امارت لا له شل کلن امریکایي اشغال څخه د خپلواکۍ اخیستلو ستړیاوې نه وې دمه کړې، چې د پخوانۍ ادارې د لوړ پوړو چارواکو له تېښتې سره سم یې د خپل بې سر نوشته ملت د رهبرۍ چارې پر غاړه واخیستې او شپه ورځ یې د خپل ملت د خدمت لپاره ځانګړې کړه.

د چور او چپاول له خولې راویستې اداره یې منظمه کړه، د حکومتولۍ درېدلی سیاسي، اداري او اقتصادي څرخ یې په حرکت راوست او په هېواد یې د سولې او امنیت هغه فضا خپره کړه، کومه چې له کلونو راهیسې د افغانانو ستر ارمان ګڼل کېده.

د امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري د عمومي عفوې فرمان یې په بشپړ ډول عملي کړ او له هېواده وتلو پخوانیو چارواکو او نورو عامو افغانانو ته یې خپل هېواد ته د ستنېدو بلنه ورکړه او لاهم دې بلنې ته لبوال دی.

د سیمې او نړۍ هېوادونو ته یې د مثبت تعامل غېږ پرانیسته او د متوازن او اقتصاد محوره سیاست په رڼا کې یې د نړۍ ټولو هېوادونو ته د اړیکو رغولو وړاندیز وکړ.

له هغو هېوادونو یې مننه وکړه, چې په افغانستان کې یې د سیاسي تحول پر مهال خپلې استازولۍ ونه تړلې او په نورو هېوادونو یې هم غږ وکړ تر څو په افغانستان کې خپلې استازولۍ بېرته پرانیزي او ټولې نړۍ ته د اسلامي امارت له لوري په کراتو ډاډ ورکړل شوی، چې هیچاته به اجازه ورنکړي چې د افغانستان خاوره د چا پر ضد وکاروي او له مقابل لوري څخه هم ورته هیله لري.

د یو سوکاله او پر مختللي افغانستان په هیله...

# د انتالیا فورم ته

د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان (متقي) وینا




له ګران او قدرمن ورور او د ترکیې بهرنیو چارو وزیر ښاغلي چاووش اوغلو څخه مننه کوم،چې د انتالیا ډیپلوماسي فورم د نوښت له لارې یې، موږ او تاسې سره یوځای کړو، د انتالیا ډیپلوماسي فورم اوسنۍ ناستې سرلیک ریکوډینګ دیپلوماسي(د ډیپلوماسي بیا تعریف) راته ډېر په زړه پورې ؤ.

په نړۍ کې د زرګونو ډیپلوماتیکو ماموریتونو او لسګونه زره ډیپلوماتانو پر فعالیتونو برسېره، د نړۍ په ګڼ شمېر هېوادونو کې د جګړو او د جګړو د مالي او ځاني عواقبو شتون او د دغو جګړو په مخنیوي او عادلانه هواري کې د هېوادونو او نړیوال نظام د ډیپلوماتیکو دستګاوو نه یواځې ناکامي؛ بلکې د جګړو په پیلولو، تودولو او غزولو کې د منفي ډیپلوماسي لاس درلودل ددې ښکارندوی دی، چې د ډیپلوماسي په اوسني تعریف کې ژور خلل شتون لري او دا خلل د ډیپلوماسۍ د اوسنیو تګلارو او جوړښتونو د مخلصانه بیا کتنې له لارې سمول غواړي.

د ډیپلوماسي دغه ژور خلل د افغانستان په څېر هېوادونه په ښه توګه درک کولای شي ، چې څه باندې څلور لسیزې یې د دغې ستونزې ناوړه عواقب ګاللي دي.

موږ په دې باور یو، چې ډیپلوماسي باید د جګړو د مشروعیت په موخه نه؛ بلکې د جګړو د مخنیوي په موخه وي او یوازې د لویو قدرتونو د منافعو او ایډیالوژیو وسیله نه وي؛ بلکې نظامي څواک ته له پام پرته، د هېوادونو د استقلال، هویت او مشروعو منافعو ساتلو وسیله وي.

موږ په دې باور یو، چې ډیپلوماسي باید یوازې د کمزورو اړتیا نه؛ بلکې د سترو قدرتونو اړتیا هم وي، د همدې باور پر بنسټ په 2001 زیږدیز کال کې، زموږ درووند مشر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد(رحمه الله) امریکایي لوري ته د خبرو وړاندیز وکړ؛ خو متأسفانه د امریکا د هغه وخت اداري یوازې په پوځي یرغل ټینګار درلود او پر وړاندې یې مقاومت زموږ مجبوریت او مسئولیت ؤ.

خو سره له دې کله چې امریکا په 2010 زیږدیز کال کې خبرو ته چمتو شوه؛ نو سمدستي مو اړیکې او تماسونه پیل شول او د مخلصانه ډیپلوماسۍ لاره مو خپله کړه، چې بالاخره په 2020 زیږدیز کال د فبروري میاشت کې تړون وشو او د دې تړون له مخې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووتل او نړۍ ته ډاډ ورکړل شو، چې د افغانستان خاوره به د هیچا پر ضد نه کارول کیږي.

درنو حاضرینو!

د 2022 ز کال د اګست 15 له تحول ورسته مو هم له ټولو اړخونو سره د ډیپلوماسۍ او خبرو اترو لاره خپله کړه، خپلو ټولو سیاسي او نظامي مخالفینو ته مو عمومي عفوه وکړه او دا عفوه مو په عمل کې هم ثابته کړه.

د نړۍ له هغو هېوادونو سره عملاً مخلصانه راشه درشه لرو، چې شل کاله یې زموږ په هېواد کې جګړه کوله، افغانستان غواړي نور د ماضي پاڼه واړوي او له سیمې او نړۍ سره د تفاهم، مشترکو او مشروع ګټو او همکاریو پر اساس پر مخ ولاړ شي. په همدې موخه د سیمې او نړۍ ټولو هیوادونو ته یو ځل بیا ډاډ ورکوو، چې د افغانستان خاوره به د نړۍ د سولې او امنیت پر خلاف نه کارول کیږي او له نورو هېوادونو څخه هم د ورته تعامل غوښتنه کوو.

د څلورو لسیزو له اوږدې جګړې څخه د تازه راوتلي هېواد په توګه، د نړۍ له هېوادونو غواړو، چې له سیاسي پلوه د باثباته او له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا افغانستان په جوړولو کې له موږ سره مرستندوی شي او د افغانستان د مرکزي بانک کنګل شوې شتمنۍ په بشپړه توګه ازادولو او پر افغانستان د لګېدلو اقتصادي بندیزونو په لرې کولو کې له موږ سره بشپړه مرسته وکړي.

د افغانستان له خلکو سره د دوستو هېوادونو د بشري مرستو د قدردانۍ تر څنګ، له ټولو هېوادونو غواړو، چې له افغانستان سره د پایداره اقتصاد د بنسټ ایښودلو په موخه پرمختیایي مرستې وکړي.د سرتاسري کامل، امنیت له فساد څخه پاک او یو متحد حکومت په لرلو سره افغانستان چمتو دی، چې په سیمه کې د لویو اقتصادي پروژو د پلي کېدو له لارې د امن په سنګر او د سیمه ییز اقتصادي اتصال او ښیرازۍ په مرکز بدل شي.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت به د ډیپلوماسۍ له لارې له تاسې سره په ټولو مثبتو چارو کې همکار وي او د غوره او منل شویو ډیپلوماتیکو اصولو په ترویج کې به تل له تاسې سره، ستاسې تر څنګ ولاړ وي.

درنو حاضرینو!

پوښتنه داده: چې افغانستان اوس هم بشري مرستو ته اړتیا لري؟! هوکې! په دې کې شک نشته؛ ځکه چې په افغانستان کې د شل کلن اشغال پر مهال، د میلونو ډالرو پر لګښت برسېره، بیا هم هیڅ بنسټیزې پروژې نه دي عملي شوې، لا هم موږ په



افغانستان کې مجهز روغتون نه لرو، معیاري سړک نه لرو او داسې فابریکې نه لرو چې هلته په لسګونو، سلګونو او زرګونو کسان کار وکړي؛ نو په همدې اساس افغانستان هم بشري او هم د خپلو زیر بنایي پروژو د رغولو او راژوندي کولو او خلکو ته د کار پیدا کولو په موخه پرمختیایي مرستو ته جدي اړتیا لري.

افغانستان یو لوی هېواد دی، چې څلوېښت میلونه نفوس لري، خو بیا هم له څلوېښت کلنی اوږدې جګړې وروسته، د لوی خدای په لورینه اوس دلته بشپړ امنیت تأمین دی. په تېرو شپږو میاشتو کې په سلګونو مرستندوی بنسټونه او د هغوی زرګونه کار کوونکي افغانستان ته راغلي او له هیڅ ډول ستونزې سره نه دي مخ شوي او هیڅ زیان هم ورته نه دی رسېدلی.

افغانستان اوس د یو تاریخي او مثالي امن څښتن دی او له دې فرصته په استفادې سره نړیوال کولای شي، چې په افغانستان کې د بشري او انکشافي مرستو تر څنګ په افغانستان کې پانګونه هم وکړي. هغه افغانستان چې خلک یې په رڼا ورځ په پلازمېنه کابل کې له کوره بهر نه شول وتلای، نن خلک په کې 24 ساعته( شپه، ورځ) تګ راتګ کوي.

هغه افغانستان چې په فساد او درغلۍ کې یې په نړیواله کچه لومړی مقام خپل کړی و، نن هلته د فساد کچه صفر ته راټیټه شوې ده.

هغه افغانستان چې هلته د امریکا په ګډون 50 هېوادونو نه شول کولای، چې د داعش مخه ونیسي، الحمدالله نن د هغوی مخه نیول شوې او فعالیتونه یې له منځه تللي. له دې هر څه برسېره؛ نن په افغانستان کې د څلوېښتو کلونو له جګړې وروسته، یوه مرکزي واکمني ټینګه شوې او تر څنګ یې سیاسي پالیسي په داسې ټکو ولاړه ده؛ چې له هیڅ کوم هېواد سره ټکر نه لري. موږ نه غواړو؛ چې افغانستان یو ځل بیا د لویو قدرتونو د ټکر پر مرکز بدل شي؛ بلکې غواړو، چې افغانستان د مرکزي او جنوبي اسیا ترمنځ د اقتصادي اتصال او ټرانزېټ په ډګر بدل شي.

ورڼو او خویندو!!

تاسې پوهېږئ؛ چې افغانستان د اسیا زړه دی او کله چې په بدن کې زړه نارامه وي؛ نو ټول بدن ورسره نارامه وي؛ نو ځکه موږ نړۍ ته دا وایو، چې د افغانستان کمزورتیا د هیچا په ګټه نه ده او څوک چې د افغانستان د حکومت د کمزورۍ کولو هڅې کوي؛ نو دا په دې معنی ده چې دوی هغه څوک قوي کوي، کوم چې په سیمه کې ناقراري غواړي.

راځئ! په ګډه کار وکړو او جنګ ځپلی افغانستان په ګډه اباد کړو.

که له افغانستان سره مرسته وشي، نو اروپا او نوره نړۍ به د مهاجرینو له لویې څپې وژغورل شي. تاسې عملاً ولیدل؛ چې د اوکراین په جګړې سره نړۍ د میلونونو مهاجرینو کوربه شوه، د اوس لپاره موږ له افغانستانه کوم سیاسي مهاجر نه لرو، البته که وي؛ نو هغه به د اقتصادي ستونزو له امله وي.

پر همدې اساس که په افغانستان کې اقتصاد ښه شي؛ نو دا به په افغانستان کې اوسنی امنیت پایداره کړي او دغه پایداري به د نړۍ په ثبات کې رغنده رول اداء کړي. نو له ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه له امریکا او اروپا( چې شل کاله یې دلته جګړه کړې او کومه پایله یې هم نه ده ورکړې) غواړو چې زمونږ دغه وړاندیز ته راوړاندې شي او نور دې د افغانستان پر وړاندې د فشار افشنونه نه کاروي؛ بلکې د دې پرځای دې د همکارۍ افشنونه وکاروي،تر څو له یو بل سره همکار شو او له یو بل سره په ګډه کار وکړو او جنګ ځپلی افغانستان په ګډه اباد کړو.



# د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون IFRC د آسیا پاسیفیک حوزې مشر الکساندر ماتیو د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره کتنه

د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (IFRC) د آسیا پاسیفیک حوزې مشر(الکساندر ماتیو) د ا.ا.ا د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره وکتل. په دې کتنه کې ښاغلي ماتیو له موجوده وضعیت څخه خوښي څرگنده کړه او د خوښۍ تر څنگ يې د تېرو کلونو په پرتله د روان 2023 زیږدیز کال لپاره د کلنۍ بودیجې او خدماتو د زیاتولو خبر ورکړ، ده همدار راز زیاته کړه، چې په افغانستان کې زموږ فعالیتونه په نارمل ډول له کوم خنډ او ځنډ پرته جریان لري.
ښاغلي متقي په خپل وار نوموړي ته د ښه راغلاست تر څنگ؛ د دوی کړنې وستایلې او هیله يې وښوده، چې د دوی له لوري د هیواد لیرې پرتو سیمو ته هم د خدماتو غځولو، د شفاخانو اکمالاتي تجهیز او بهر ته د ناروغانو د لیږدولو په برخه کې هڅې نورې هم زیاتې او گړندۍ شي.

# د چین او جنوبي آسیا ترمنځ د اقتصادي همکاریو، تجارت او پانګونې د شېبرم ننداریتون پرانیست غونډې دریم فورم ته

د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مولوي امیر خان (متقي) وینا

خوشحاله یم؛ چې نن د جنوبي اسیا هېوادونو او د چین ولسي جمهوریت استازي راغونډ شوي او د اړینو مسائلو په تړاو چې زموږ ټولو لپاره مهم دي، خبرې اترې او د اندونو تبادله کوو، زه د چین ولسي جمهوریت څخه د دغې غونډې د کوربه توب مننه کوم.

درنو ګډونوالو!!

افغانستان داسې یو مهم جغرافیایي موقیعت لري؛ چې د اسیا په څو برخو کې راتلای شي، چې دا د افغانانو لپاره ستر ویاړ دی او له نېکه مرغه اوس دلته د څلورو لسیزو له تېرېدو وروسته زموږ په ټوله خاوره کې بشپړ امنیت تأمین دی.

په افغانستان کې له سیاسي پرمختګونو او د اسلامي امارت له بریا وروسته د سیمې هېوادونو پر وړاندې ګواښونه د پام وړ کم شوي دي او د سیمې د بې ثباته کولو لوی پلانونه د اسلامي امارت د ځواکونو پر بې سارو قربانیو شنډ او له منځه وړل شوي دي.

زه له هغو هېوادونو مننه کوم؛ چې وروستیو سیاسي پرمختګونو ته په کتو یې، په کابل کې خپلې سیاسي استازولۍ نه دي تړلې او له ورته نورو هېوادونو څخه هم غوښتنه کوم؛ چې په بشپړ ډاډ سره په افغانستان کې خپلې سیاسي استازولۍ پرانیزي.

د افغانستان اسلامي امارت متقابل درناوي، ښه ګاونډیتوب او د هېوادونو په کورنیو چارو کې نه لاس وهنې ته جدي ژمن دی او ددې ژمنتیا پر بنسټ د سیمې له ټولو هېوادونو غواړي، چې د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې پانګونه وکړي، موږ د بهرنیو پانګوالو لپاره د لازمو اسانتیاوو برابرولو ته چمتو یو.



موږ ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکوو، چې هیچاته به اجازه ورنه کړو، چې د افغانستان خاوره د سیمې او نړۍ د بې ثباته کولو لپاره وکاروي.


د افغانستان اسلامي امارت د سیمې په سترو اقتصادي پروژو کې ګډون ته چمتو دی او د سیمې له هېوادونو څخه غواړي چې خپلې اقتصادي پروژې په افغانستان کې پیل کړي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي؛ چې د خپل متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست پر مټ د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د همکارۍ نږدې او ټینګې اړیکې ولري.

او په پای کې یو ځل بیا د چین له ولسي جمهوریت څخه د دغه فورم د ترسره کولو له امله مننه کوم او د دغه فورم ټولو ګډون والو ته د بریا هیله مند یم.

# د تېر په پرتله، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي، ځان وژنې، اختطاف او شکنجې کچه صفر ته راټيټه شوې

د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين الحاج شير محمد عباس (ستانکزی)




د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي راپور جوړوونکي ريچارد بينټ او ورسره مل پلاوي په افغانستان کې د خپل سفر پای ته رسولو پر مهال د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين ښاغلي شير محمد عباس ستانکزي سره وکتل.

په دغه کتنه کې د ملگرو ملتونو ځانگړي راپور جوړوونکي له بهرنيو چارو وزارت څخه مننه وکړه چې دوی ته يې د سفر اسانتيا برابره کړه او حقايقو ته يې آزاد لاس رسی وموند.

ښاغلي بينټ وويل: موږ د خپل څو ورځني سفر په ترڅ کې د پنجشير او باميانو ولايتونو تر څنگ، له بېلا بېلو وگړو، لوړ پوړو چارواکو، تجارانو، ښځو او همداراز روغتونونو، انجيوگانو او د ملگرو ملتونو د بېلا بېلو ادارو له استازو سره وکتل.

ښاغلي بينټ د شويو پرمختگونو تر څنگ د ښځو له تعليم، کار او ورته نورو ستونزو څخه هم يادونه وکړه.

ښاغلي ستانکزي ريچارد بينټ ته د ښه راغلاست ترڅنگ وويل: زموږ له گاونډيانو څخه نيولې؛ د اروپا په گډون په ټوله نړۍ کې بشري ستونزې شته او افغانستان خو تازه له نيمې پېړۍ اوږدې جگړې نه راوتلی، چې د وخت په تېريدو به ټولې ستونزې حل شي.

نوموړي د تېر حکومت ستونزو ته په اشاره وويل: د تېر په پرتله د ښځو د ځان وژنې او د هغوی پر وړاندې تاوتريخوالي، اختطاف، غير قانوني وژنو او په زندانونو کې د شکنجو کچه اوس صفر ته رسېدلې.

ده همدا راز د تعليم په تړاو وويل: تعليم د هر افغان حق دی او د نجونو د ښوونځيو په تړاو د رهبرۍ تر کچې خبرې روانې دي.

ښاغلي ستانکزي په پای کې له نړيوالو رسنيو د حقايقو د نشر غوښتنه وکړه او هم يې له ملگرو ملتونو څخه د اقتصادي ستونزو ،بانکي محدوديتونو، د معتادينو د درملنې او ورته نورو ستونزو په حل کې د مرستې غوښتنه وکړه.

په پای کې ښاغلي بينټ هم ژمنه وکړه، چې له بهرنيو مرسته کوونکو سره به خبرې وکړي؛ تر څو په افغانستان کې د بېوزلۍ له منځه وړلو لپاره هر راز مرستې تر سره شي.

# د اسلامي امارت بنسټګر؛ مرحوم ملا محمد عمر "مجاهد" رحمه الله

قاري عبدالستار سعید

د اسلامي تاریخ زریني کرښې؛ چې د اسلامي اتلانو په تاریخ یې ښکلا خپله کړې، د عمر نومونو په دغه لړۍ کې یو ځانګړی باب جوړ کړی دی، چې یو یې لومړی عمر (عمر فاروق رضی الله عنه) دی او بل یې دویم عمر (عمر بن عبدالعزیز رحمه الله) دی او بل یې دریم عمر (ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله) دی.

## امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله څوک ؤ؟!

د نړۍ د مسلمانانو د شلمې پېړۍ د ورستیو کلونو او د یوویشتمې پېړۍ د پیل کلونو رهبر؛ د عمر فاروق رضي الله عنه او د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د پل ربښتنی لاروی امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله اسلامي سپېڅلي شریعت ته داسې ژمن او متعهد شخصیت وو؛ چې د اسلامي غیرت او ننګ له کبله یې، نه یواځې دا چې د نړۍ د مسلمانانو په زړونو کې ځانګړی ځای خپل کړ، بلکې د تاریخ د زرینو پاڼو پر مخ یې هم د اتلولۍ کارنامه جوړه کړه.

او تر څنګ یې د اسلامي نړۍ د راتلونکو نسلونو، مبارزینو او لارویانو لپاره، چې د اسلامي امت د ویښتابه لپاره هلې ځلې کوي، د تګ یو روښانه بېلګه او مشال شو.

د تاریخ د پاڼو دغه نه هېرېدونکې څېره او ستر سرلارې امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د مولوي غلام نبي زوی ؤ، چې د کندهار ولایت اړوند د خاکریز سیمې په یوه غریبه کورنۍ کې وزیږېد او پلار یې ورباندې د محمدعمر نوم کېښود. نوموړي لا خاپوړې کولې، چې پلار یې له خپلې سیمې(خاکریز) څخه لرې، کندهارښار ته څېرمه نوده کلي ته کډه وکړه او هلته په امامت بوخت شو او تر څنګ یې په خپله غریبانه جونګړه کې،



چې د ایمان په نورانیت او رڼا سمبال وه، د خپل زوی پالنه کوله. د دې سترې هستۍ د سترې موخې لپاره د تربیت د ازموینو لړۍ هغه مهال پیل شوه، چې نوموړی لا د پنځه کلنۍ په درشل کې و، چې په پلار یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او خپل زوی یې د یتیمولۍ یو عالم غمونو او کړاونو سره، یوازې د الله ج اسرې ته پرېښود.

کوچنی عمر چې کله د پلار له سیوري څخه بې برخې شو؛ نوله خپلې مور سره د خپلو ترونو د اوسېدو سیمې(ارزګان) ته ولاړ او هلته یې مؤمنې او نېکې مور د تربیت او پالنې دوام ته ملا وتړله او کوچنی زوی یې د کلي، مسجد او مدرسې په اسلامي او غیور افغاني رنګین چاپېریال کې راستر شو.

او د یوې سترې او عالي موخې لپاره چې له کلونو راهیسې انسانانو هېره کړې وه؛ چې هغه د الله جل جلا له پر ځمکه د اسلامي نظام حاکمیت راژوندی کول و؛ په همدې موخه یې، خپلې متې بډ وهلې او لومړی یې د کمونېزم د یرغل پر وړاندې په دهراوود ولسوالۍ کې له شورویانو او کمونیستانو سره سختې او تاریخ جوړوونکې ډغرې ووهلې او بیا چې کندهار ته راغی؛ نو د کندهار او هرات ترمنځ د سنګ حصار سیمه یې هم د روسي

د(سنګ حصار) سیمه یې هم د روسي ټانګونو په مرګونې هدیره بدله کړه.

نوموړي د خپل دین او ملت د دفاع لپاره څو وارې د خپل تن وینه قرباني کړه او خپله ښۍ سترګه یې په دغو سربښندنو کې له لاسه ورکړه، مګر دغو زخمونو، کړاونو او سربښندنو عمري هوډ مات نه کړ او د کمونیست نظام تر راپرځېدو یې خپل جهاد روان او جهادي توغ یې رپاند وساته.

د کمونېزم له راپرځېدو وروسته یې خپله جهادي مبارزه د جهاد په مدرسه بدله کړه او د اسلامي نظام جوړښت او ډانچه یې هغو رهبرانو، پروفیسرانو او انجنیرانو ته پرېښوده؛ چې هر یو یې ځان د دغه مکانیزم تیوریسن او متخصص باله او په یاده برخه کې یې ګڼو لیکنو او رسالو شتون درلود.

خو ربښتیا هم! ویل او کول ډېر زښت توپیر لري، درې کاله ووتل؛ خو لا هم د اسلامي نظام تلوسه او ارمان یواځې د تشې خولې زمزمه وه؛ ځکه د تیوریکو کړنو د پلي کولو لپاره یو ځانګړي استعداد او صلاحیت ته اړتیا وي او هغه دوی نه درلود.

همدا لامل ؤ، چې دوی د افغان جهاد وقار او برم په سیند لاهو کړ، لسګونه زره هېوادوال یې بې ګناه ووژل، د غلا، غصب، ظلم، وژنو، لوټمارۍ او پاټکمارۍ کلتور یې ترویج کړ او اسلامي فکر او جهادي سپېڅلتیا ته یې په نړیواله کچه صدمه او بد نامي واړوله.

دروند مشر چې کله د پروفیسرانو دغه کمزوري او نیمګړتیا ولیده؛ نو ډېره وربانډې وغمېده او اړ شو چې دغه مسئولیت پر خپله غاړه واخلي، همغه و چې یوه ورځ تک یواځې ووت، کور پر کور او کوڅه پر کوڅه وګرځېد او خلک یې د شته فساد، ظلم، وحشت او زړه بوګونکي حالت د پای ته رسولو لپاره پاڅون ته وهڅول او د قلزوم مړاوې څپې یې بیا څپاندې کړې او په لنډ وخت کې یې یو داسې څپاند اسلامي غورځنګ په حرکت راوست؛ چې د فساد او پاټکمارۍ ځنځیرونه یې له ځان سره په مخه واخیستل.

همغه و؛ چې ملا محمد عمر مجاهد له سپین محمدي توغ لاندې یو سپېڅلی اسلامي نظام جوړ کړ، د شریعت ټول احکام یې پلي کړل، د ټولنې د اصلاح او د فساد له منځه وړلو لپاره یې حدود نافذ کړل، امر بالمعروف او نهی عن المنکر یې رامنځ ته کړ او د امیرالمؤمنین لقب یې وګټه.

نوموړی په نړیواله کچه د اسلامي امت په هره غمیزه غمجن کېده او د نړۍ په هیڅ کونج کې یې له مسلمانانو څخه خپله همکاري ونه سپموله او د اسلام د دښمنانو د هیڅ ډول پوځي، اقتصادي، سیاسي او تبلیغاتي فشارونو تر اغېز لاندې رانغی او پر وړاندې یې د غره په څېر پیاوړی ودرېد او د افغاني غرور شمله یې هسکه وساتله.

کره ده! چې د اسلام دښمنانو او د نړۍ سترو طاغوتیانو د اسلامي نظام دغه دنګ منار ونه شو زغملای؛ نو ځکه ټولو په ګډه د دغه منار د راپرځولو هڅې پیل کړې او په ډېره سپین سترګۍ یې؛ پرته له کوم منطقي دلیل او کره شواهدو او د نړیوالو اصولو په نقض سره یې، د نوموړي نظام په وړاندې د جنګ اعلان وکړ او د سترو فوځونو او پرمختللیو جنګي وسائلو سره افغانستان ته راغلل.

مجاهد هم د تخت او پاچاهي پر ځای د غرونو لاره ونیوله او د محمدي ژمنتیا او کلک هوډ پر بنسټ؛ لا هم ارام کېنناست او له هغه ځایه یې د صلیبي طاغوت پر وړاندې جهاد ته دوام ورکړ او د غرونو غلي شوي سنګرونه یې یو ځل بیا په داسې جوش او ولولو راوستل، چې په ټکنالوجۍ مسته او مغروره امریکا یې ځان پورې حیرانه کړه.

ملا محمد عمر مجاهد د ژوند تر پایه جهاد او اسلامي نظام قائمولو ته ژمن پاتې شو او تر پایه یې د هیڅ معاصر رهبر او لیډر په شان د هوسا او امتیازي ژوند هوس ونه کړ؛ بلکې د ختیځونو او ډبرینو کورونو او د جهاد په ګرد ککړو سنګرونو او د خړو کلیو په چاپېریال کې یې خپل ستومانه ژوند تنداره کړ او خپلې

سلگۍ یې په ۱۳۹۲هـ . ل کې د ثور میاشتې په څلورمه نېټه د روح په سپارلو سره ودرولې او د تل لپاره یې له دې پناه کېدونکې نړۍ څخه کوچ وکړ.
په داسې حال کې؛ چې دغه وخت له نوموړي لارویان د امریکا او گوډاگیانو سره یې په توند جهاد بوخت وو او د اسلام په دښمنانو یې تندریز بریدونه دومره زیات کړي وو، چې پر هغوی یې د ارام ساه حرامه کړې وه؛ نو له همدې امله د مجاهدینو د مورال ساتلو او له دښمنانو څخه د پټ ساتنې په موخه د زابل ولایت – سیوري ولسوالۍ- د عمرځیو په کلي کې په پټه خاورو ته وسپارل شو.
خو الحمدالله! کله چې د نوموړي لارویانو په افغانستان کې د اشغال جرړې له بېخه وویستې او له منځه تللی استقلال یې یو ځل بیا خپل کړ؛ نو د خپل دروند او قلندر مشر (امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله) قبر یې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې نړۍ ته ښکاره کړ؛ تر څو نړۍ وپوهېږي، چې د دې خړو خاورو او له دې وړې ډیره کۍ لاندې هماغه قلندر پروت دی!
چې هغه او لارویانو یې په افغانستان کې په ټکنالوژۍ مسته او مغروره امریکا هک پک او پر گونډو کړه.

روح یې ښاد، نوم یې ژوندی او یاد یې په دعاء
انا لله وانا الیه راجعون!



# د اسلامي امارت بیا ځلې واکمني

حافظ ضیاء احمد (تکل) د بهرنیو چارو وزارت مرسیال ویاند



وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَآءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّٰلِمِينَ
(سُورَةُ آل عِمرَان : ۱٤۰)

## ژباړه:

دا د زمانې خوږې ترخې دي، چې موږ یې د خلکو تر منځ اړوو را اړوو او پر تاسې دا مرحله ځکه راوستل شوه؛ تر څو الله ج وښايي چې په تاسې کې رښتیني مؤمنان څوك دي او د هغو خلکو ټاکل یې غوښتل، چې په سمه توگه (د رښتینولۍ) شاهدان وي؛ ځکه چې الله ج ظالمان نه خوښوي.
د ۱٤۰۰ه ـ ل کال د زمري پر ۲٤مه په داسې حال کې چې د هېواد ډېرې ولایتونه یو په بل پسې د تیرې ادارې له لاسه وتلي وو، کابل ته د اسلامي امارت د ځواکونو د رارسېدو خبر لاس په لاس کیده.
دغه خبر په کابل کې د خلکو ترمنځ د جگړې وېره خپره کړه او د کابل ډېرې واټونه د ساعتونو لپاره وتړل شول.
خو د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ د الهي اوامرو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د منهج برابر د افغانستان د خپلواکۍ لپاره د مکې معظمې د فتحې په څېر؛ مسئولانه نبوي سیاست خپل کړ او اعلان یې وکړ، چې د خلکو سر او مال خوندي او په ځانگړي ډول

د کابل ادارې د ټولو پخوانو کارکوونکو او امنیتي سرتېرو پر وړاندې هر ډول تعرض بند دی او هیڅوک حق نه لري؛ چې د هغوی شخصیت، خپلوانو او مال ته ضرر ورسوي.
همدا لامل و! چې د تېر رژیم ځواکونو د اسلامي امارت پر وړاندې خپل سنګرونه پرېښودل او خپلې وسلې یې د اسلامي امارت ځواکونو ته وسپارلې او په دې ګام سره ټول هېواد او په ځانګړې توګه پلازمېنه کابل له ویجاړۍ او وینې تویدنې وژغورل شو.
د همدې ورځې په مازدیګر د تېرې ادارې پخواني رئیس جمهور حامد کرزي او د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس عبدالله عبدالله له افغانستانه د محمد اشرف غني د وتلو خبر اعلان کړ.
په دغو حساسو شېبو کې نابېره د اسلامي امارت یو لوړ پوړی چارواکی ملاعبدالغني برادر د یو ټلویزیون په پرده راځي او خلکو ته د هغوی د ځان او مال د امنیت په هکله ډاډ ورکوي.
د محمد اشرف غني په شمول د کابل ادارې د نورو لوړ پوړو چارواکو تېښته هغه څه وو؛ چې خلک یې په یو نامعلوم برخلیک او ګونګ حالت کې یواځې پرېښودل؛ نو ځکه د اسلامي امارت مشرانو د مسئولیت احساس وکړ او خپلو ځواکونو ته یې د کابل ساتنې پر موخه د ننوتلو امر وکړ. د اسلامي امارت د ځواکونو له ننوتلو سره سم د هېواد نظم او امنیت لومړیتوب وګڼل شو او د عمومي امن او نظم سنګرونه یې ونیول او په لومړي قدم کې د تاسیساتو او عامه شتمنیو د ساتنې لپاره ځای پر ځای شول، هیچا ته یې اجازه ورنه کړه؛ چې له دولتي او شخصي شتمنیو او تاسیساتو څخه غلا وکړي او یا زیان ورواړوي او د خلکو د مال او ځان ساتلو لپاره بشپړې هلې ځلې وشوې؛ تر څو غله او نظم خرابوونکي ونه شي کولای؛ چې له رامنځته شوې خلا ګټه پورته کړي او غلاوې او لوټماري وکړي.
د یادونې وړ ده، چې د کابل ادارې په ړنګېدو سره د ګډوډۍ او بې نظمۍ پر وړاندې د اسلامي امارت تدابیر او کنټرول دومره بې مخینې و؛ چې په تېر تاریخ کې یې ساری نه لیدل کېږي.
او دا کار د هېواد دننه او بهر د خلکو د حیرانتیا سبب شو، چې څنګه اسلامي امارت په دې لنډه او حساسه موده کې وکولای شول، چې ټول هېواد په ښه ډول کنټرول او ټولنیز نظم برقرار وساتي.
د جمهوریت له سقوط درې ورځې وروسته د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د لومړي ځل لپاره په کابل کې په یوې خبري غونډه کې راڅرګند شو او د بښنې عمومي فرمان یې په رسنیز ډول اعلان کړ.
ښاغلي مجاهد وویل: « د عمومي عفوې څخه موخه داده؛ چې موږ نور په افغانستان کې د جګړې تکرار نه غواړو». د ورېږ پر شپاړسمه د اسلامي امارت لنډ مهاله کابینه اعلان شوه. ملا محمد حسن آخندزاده د رئیس الوزراء، ملا عبدالغني برادر د لومړي مرستیال او مولوي عبدالسلام حنفي د دویم مرستیال، مولوي محمد یعقوب مجاهد د دفاع وزارت سرپرست، مولوي سراج الدین حقاني د کورنیو چارو وزارت سرپرست او مولوي امیرخان متقي د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست په توګه وګومارل شول.
د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د سرپرستې کابینې د جوړېدو په تړاو وویل:«مشرتابه د اوس لپاره په دې حساسو شرائطو کې دا لازمه وګڼله؛ چې یوه سرپرسته اداره جوړه کړي.»
د سرپرستې کابینې له جوړېدو وروسته سمدستي امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله د ښځو د حقونو په تړاو یو فرمان صادر کړ؛ چې د لاندې متن درلودونکی و:

**د اسلامي امارت د مشرتابه مقام ټولو اړونده مسئولينو علماء کرامو او قومي مشرانو ته لارښوونه کوي، چې د ښځو اړوند لاندې حقونو پرځای کولو کې جدي اقدامات وکړي:**

۱. د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضايت اړين دی او هيڅوک يې په جبر او اکراه سره پر نکاح کولو نه شي مجبورولای.

۲. ښځه مال نه؛ بلکې اصيل او آزاد انسان دی، له همدې امله يې هيڅوک چاته د سولې په بدل (بدو) کې نه شي ورکولای.

۳. د ميړه له مړينې وروسته، کونډه ښځه چې شرعي عدت (څلور مياشتې او لس ورځې يا د حمل زېږول) يې تير شي، ليور او يا بل څوک يې په زور نه شي په نکاح کولای؛ بلکې کونډه د نکاح کولو او د خپل راتلونکي سرنوشت په هکله د خپل اختيار څښتنه ده.

۴. له نوي خاوند څخه د مهر اخيستل د کونډې شرعي حق دی.

۵. ښځه د (وفات شوي) ميړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې په فرضيت او عصبيت سره د ميراث حق او ټاکلې برخه لري، هيڅوک يې له خپل حق څخه نه شي بې برخې کولای.

٦. کوم څوک چې متعدد ودونه ولري، مکلف دی چې ټولو ښځو ته له شرعي حکم سره سم حقوق ورکړي او ترمنځ يې عدل وکړي. د پورته حکم د تعميل او په ښه ډول تطبيق لپاره دې لاندې امارتي ارگانونه په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي.

الف) د حج او اوقافو وزارت ته حکم کيږي، چې د ښځو د حقونو اړوند هداياتو په هکله علماء کرام او خطيبان وهڅوي چې د خپلو خطبو او وعظونو له لارې خلک پوه کړي،چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی حقوق نه ورکول د الله تعالی د ناراضی، عذاب او قهر سبب گرځي.

ب) د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت مکلف دي، چې د ښځو د حقونو اړوند ترغيبي او ترهيبي گټور مطالب په ليکلې او غږيزه بڼه په دوامداره توگه نشر کړي او هم دې د گټورو رسالو تکثير او اشاعت ته د فن او استعداد خاوندان وهڅوي. تر ممکنه بريده دې ځينې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسائلو څخه په گټې اخېستنې سره چاپوي؛ ترڅو د ښځو د شرعي حقونو په هکله د علماء کرامو پام جلب، پوهاوی عام او د روان ظلم مخنيوی اسانه شي.

ج) د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محاکموته هدايات وکړي، چې د ښځو او په ځانگړې توگه د کونډو د حقونو او پرهغوی د ظلمونو اړوند عريضې په اصولي ډول واخلي او په هکله يې غفلت ونه کړي؛ ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولو په برخه کې له مايوسی سره مخ نه شي.

د) واليان او ولسوالان دې له يادو وزارتونو او سترې محکمې سره د دغه فرمان د تطبيق په برخه کې هر اړخيزه مرسته او همکاري وکړي.

د یادونې وړده! چې داسلامي امارت له راتلو وروسته د افغانستان په تړاو په بېلابېلو هېوادونو کې یو شمېر غونډې جوړې شوې.

مسکو او ناروې دوه هغه هېوادونه وو، چې د لومړي ځل لپاره یې په نړیوالو غونډو کې د سرپرست حکومت چارواکو ته بلنه ورکړه.

د افغانستان د سیاسي او بشري حقونو په تړاو د ټرویکا پلس، د ملګرو ملتونو، د اروپايي ټولنې د ځانګړو غونډو په ګډون لسګونه نورې غونډې هم جوړې شوې او تر څنګ یې د نړیوالو څرګندونو هم په رسنیز ډګر کې یو ځانګړی باب جوړکړ.

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف د افغانستان په تړاو په خپلو څرګندونو کې وویل: «د نړ یوالې ټولنې له لوري د اسلامي امارت د رسمیت نه پېژندنه او د دغه هېواد پر وړاندې اقتصادي او سیاسي ننګونې د دې لامل کیږي؛ چې د افغانستان وضعیت له بې ثباتۍ سره مخ کړي».

همدارنګه؛ د برېتانیا د بهرنیو چارو پخواني وزیر ډیوېډ مېلبنډ هم وویل: «نړیواله ټولنه دې بیا افغانان نه مجازات کوي؛ بلکې د دوی لاسنیوی دې وکړي او د بېوزلۍ د پراختیا اساسي مخنیوی دې وشي نوموړي زیاته کړه: په افغانستان کې باید اقتصاد بېرته فعال شي، نړیواله ټولنه دې مرستې زیاتې کړي او تر څنګ دې؛ له نوي حکومت سره د خبرو له لارې تعامل ته ادامه ورکړي».

د شپږو میاشتو په تېرېدو سره کرار، کرار دولتي بنسټونه بېرته فعالېدل پیل شول او په کابل کې د چین، ازبکستان، اروپايي ټولنې، روسیې اماراتو او هند سفارتونه یو پر بل پسې پرانیستل شول. روسیه، ازبکستان، چین، ایران او پاکستان هغه لومړني هېوادونه وو، چې د اسلامي امارت استازي یې په خپلو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونو ته ومنل.

د لویې جرګې په تالار د دیني عالمانو د غونډې جوړېدل یو له مهمو غونډو ګڼل کېږي.

په دې غونډه کې زیات شمېر دیني عالمانو او قومي مخورو ګډون درلود؛ خو سره له دې هم د نړۍ په وینا ښځو او د ټولنې نورو قشرونو استازو ته پکې د ګډون بلنه نه وه ورکړل شوې. دا په کابل کې لومړنۍ غونډه وه، چې د اسلامي امارت رهبر په کې حضور درلود.

سره له دې؛ چې په افغانستان کې واک ته د اسلامي امارت له بیا رسېدو دوه کاله تېرېږي؛ خو لا تر اوسه هیڅ هېواد اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی.

د نړۍ پلمه د رسمیت پېژندلو لپاره د بشري حقونو په ځانګړې توګه د مېرمنو حقونو رعایت، پوهنتونونو او ښوونځیو ته د نجونو تګ، د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه او د ټول ګډونه حکومت جوړول دي، چې د نړۍ په باور کابل تر اوسه دغه شرطونه نه دي پوره کړي او له همدې امله؛ تر اوسه د نړۍ له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی.

خو د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو په کراتو سره دغه ادعاوې بې بنسټه او یوازې د دوی د حکومت پر وړاندې پلمې ګڼلې دي او دا یې د دوحې هوکړه لیک څخه ښکاره سرغړونه بللې.

د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د نجونو د زده کړو په هکله تل څرګنده کړې: «زده کړې د نجونو حق دی او دوی هڅه کوي د دې لپاره یو خوندي او جلا چاپېریال رامنځ ته کړي؛ کوم چې د اسلام او افغاني کلتور غوښتنه ده».

همدا راز د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي، چې د وږي په ۱٦ مه ملت ته د حساب ورکونې په مطبوعاتي کنفرانس کې د خبریالانو پوښتنې ځوابولې، د بشر او ښځو د حقونو په تړاو وویل: «د بشر حقوق هغه دي؛ چې اسلام بشر ته ورکړي او موږ د بشر حقوقو لپاره د یو کمیسون پرځای، په څلور دیرش ولایتونو

ولسوالیو کې له محاکمو څخه عبارت دي او دوی مکلف دي، چې د خلکو حقونو څخه په کلکه دفاع او ساتنه وکړي».
نوموړي د ښځو په تړاو زیاته کړه: «ښځې د پخوا په پرتله خوندي دي او هیڅوک ورته په بد نظر نه شي کتلای او ښځو چې په تېر حکومت کې د تاو تریخوالي له امله؛ کومې ځان وژنې کولې اوس یې بېلګه نه لیدل کیږي، دوی ته حقوق ورکول شوي او لا هم د معارف په برخه کې 92 زره ښځینه او د روغتیا به برخه کې 14 زره ښځینه په خدمت بوختې دي او کومې چې د اوس لپاره دندو ته نه راځي؛ نو هغوی ته په کور کې معاش ورکول کیږي».
ښاغلي متقي د ټول شموله حکومت غوښتنې په ځواب کې وویل: «موږ لا تر اوسه له نړیوالو څخه د ټول شموله حکومت سم تعریف نه دی تر لاسه کړی؛ خو بیا هم که د ټول شموله معنی دا وي: چې له هر ولایت او هر قوم څخه دې په کابینه کې خلک شتون ولري؛ نو همداسې شوي او که د ټول شموله معنی دا وي: چې په حکومت کې دې د هر مسلک خلک شتون ولري؛ نو په هره اداره کې پرته له یو څو طالبانو او علماوو څخه، نور ټول هماغه پخوانی پرسونل ځای پرځای دی؛ چې تر پنځه سوه زرو یې شمېر رسیږي. که پخوانی حکومت ټول شموله و؛ نو بیا دا ولې ټول شموله نه ګڼل کیږي؟!».
نوموړي خبریالانو ته د ورستي پوښتنې په ځواب کې وویل: «اسلامي امارت په افغانستان کې د داعش مخه ونیوله، کوم چې په اوس وخت کې نړۍ ته ستر ګواښ و، په داسې حال کې، چې پنځوس هېوادونه سره د پخواني رژیم له ځواکونو، په دې ونه توانېدل، چې په افغانستان کې د داعش مخه ونیسي؛ تر دې چې زیاتې سیمې د داعش تر ولکې لاندې وې؛ خو نن په افغانستان کې د یوې لویشتې خاورې د تسلط دعوه هم نه شي کولای، چې دا د ترهګرو پر وړاندې د مبارزې او دوی سره د اړیکو پرېکولو پورته بېلګه ده».

په پای کې د بهرنیو چارو وزیر یو ځل بیا له نړیوالو وغوښتل، چې دوی دې د یو څو معترضینو او مخالفینو له نظره افغانستان ته نه ګوري؛ بلکې حقائقو ته دې کتنه وکړي او د حقایقو پر بنا دې ورسره تعامل وکړي.



# اسلام نړۍ ته څه وړاندې کړل!

مفتي نورالله عزام د ډيپلوماسۍ د انستیټیوټ رئیس



**اسلام او د پوهې نوی لید لوری:**

تر اسلام د مخه نړۍ د بېلا بېلو تمدنونو شاهده وه، چې له هغو څخه رومي تمدن، فارسي تمدن، چینايي تمدن، هندي تمدن او مصري تمدن يې ډېر مشهور دي. هر تمدن د ژوند په بېلابېلو برخو کې ځانګړي دودیز قوانین او په خپل وخت کې پرمختللې تګلارې لرلې، ځينو يې په فلسفه کې او ځينو يې، بیا په سیاسي او نظامي ډګرونو کې پیاوړې کړنلارې لرلې، د پوهې په پرمختګ کې هم هر تمدن خپل ارزښتونه لرل.خو د ټولو تمدنونو زیاتره فلسفې یوازې پر نظري علومو ولاړې وې، نظرياتو يې تر ډېره حده خيالي او تصوري بڼه لرله او په عملي او تطبيقي اړخ کې يې ډېر کم څۀ لرل.خو د دې ټولو برعکس، اسلام نړۍ ته داسې اساسي مفاهیم او بنسټيزې تګلارې وړاندې کړې؛ چې ټولې لارښوونې يې پر حقيقي واقعيتونو ولاړې دي، چې په هر د تطبيق وړ دي او د انساني علومو په اړه يې د نړۍ لید لوری بدل کړ، موږ غواړو په دې تړاو دلته دوه موضوعات تر بحث لاندې ونیسو:

لومړی: په اسلام کې د دین او پوهې ترمنځ ټکر نشته.

دویم: علم د انسانانو د ټولو افرادو لپاره دی.

## په اسلام کې د دین او پوهې ترمنځ ټکر نشته:

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته د جبرائیل (علیه السلام) د لومړي ځل وحې راوړلو پر وخت چې د ځمکې پرمخ لومړنی حقیقت راښکاره شو، هغه دا و؛ چې دا نوی دین (اسلام) داسې دین دی چې په بنسټيزه توګه پر پوهې ولاړ دی او ټول هغه باطل اديان، نظريات او خيالات ردوي، چې له پوهې سره ټکروو، په لومړي ځل په رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندې د قرآن کريم پنځه اياتونه نازل شول، چې تقريبا ټول يې د علم له موضوع څخه بحث کوي، او هغه آيتونه دادي:

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ * خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ * اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ * الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ * عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ*

(سورة العلق: ۱-۵)

ترجمه: ولوله! د خپل هغه رب په نامه؛ چې(مخلوق) يې پیدا کړ، د وینې له ټوټې يې انسان پیدا کړ.

ولوله! او ستا رب ډېر مهربان دی، هغه چې په قلم سره يې ښوونه وکړه. انسان يې په هغه څۀ پوه کړ چې نه پرې پوهېدلو.

په دغو پنځو آیتونو کې لومړنۍ د ((اقرأ)) کلمه ذکر شوې ده چې د پوهې ترلاسه کولو امر دی او په پای کې یې د یعلم کلمه ده، چې د پوهې په دوامداره زده کړه دلالت کوي او په ټولو پنځو آیتونو کې لفظاً او یا معناً پوهې ته اشاره شوې ده، دغه راز د پوهې لومړنۍ وسیله؛ (قلم) هم په همدې ایتونو کې ذکر شوې ده. مفسرینو او څېړونکو د دغو پنځو لومړنیو ایاتونو نازلېدلو او په دغه ډول کیفیت سره په بېلا بېلو وجوهاتو څو عجیبه ټکي په ګوته کړي: لومړی دا چې الله تعالی په هغو زرګونو موضوعاتو کې، چې په قرآن کې راغلي په لومړي نزول سره د علم موضوع غوره کړه او په همدې یې پیل وکړ، سره له دې چې محمد (صلی الله علیه وسلم) امي و، نه یې لوستل کولی شول او نه لیکل، په دې سره دا خبره په ډاګه شوه، چې علم یوازې د دین او دنیا دپوهې کلي نه ده؛ بلکې د اخرت د پوهې کلي هم ده، چې بالاخره ټول انسانان هلته ورتلونکي دي. بله عجیبه نکته پکې داده، چې دا لومړني آیتونه له داسې قضیې بحث کوي، چې په هغه وخت کې عربو هیڅ اهتمام ورته نه کولو؛ بلکې د دوی پر ژوند له سره تر پایه خرافات او باطلې کړنې حاکمې وې، دوی په هر ډګر کې بې علمه وو. هو! دوی یوازې په بلاغت او شعر کې پوهه لرله او دا هغه میدان و چې دوی پکې ښهٔ مهارت در لود، چې له همدې امله قرآن کریم دوی ته په دې ډګر کې چیلنج هم ورکړی و. نو د اسلام ظهور په داسې ټولنه کې د یو علمي خوځښت او پاڅون په څېر دی چې په هغه ټولنه کې خلک د علم له روح سره هیڅ اشنا نه دي او نه هم ورته کوم ارزښت لري، دغه مهال چې په هغه ټولنه کې چا د علم په نوم هیڅ نه پېژندل، اسلام په علم پیل وکړ، ترڅو نړۍ د الله تعالی د هدایت په رڼا روښانه کړي. یوازې دا نه چې قرآن کریم په پیل کې له علم او د علم له ارزښت څخه بحث کوي؛ بلکې دا د دې معجز کتاب یوه ثابته تګلاره ده، چې بار بار یې روښانه کړې او په قرآن کریم کې به داسې سورت نه وي؛ چې په هغه کې د علم بحث نه وي شوی، که په مستقیم ډول وي او که غیر مستقیم.

او تر دې لا عجیبه دا ده؛ چې په قرآن کریم کې د علم کلمه له خپلو ټولو مشتقاتو سره (۸۵۰) ځله راغلې چې تقریبا په هر سورت کې په اوسط ډول اته ځله کېدلی شي، دا خو یوازې د علم هغه کلمه ده، چې د (ع. ل. م) له مادې څخه اخیستل شوې ده، تر دې زیاتې داسې کلمې شته، چې د علم په معنی دي خو د (ع. ل. م) له مادې څخه نه دي، لکه: الیقین، الهدی، العقل، الفکر، النظر، الحکمة، الفقه، البرهان، الدلیل، الحجة، البینة او داسې نور...

چې دغه ټولې کلمې د علم پر معنی ټینګار کوي او په نبوي سنتو کې خو دعلم کلمه شمېرل ښېخې محال دي.

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: الدنیا ملعونة، ملعون مافیها إلا ذکر الله وما والاه أو عالما أو متعلما.

په دې حدیث کې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- دا خبره په ډاګه کوي،چې په دنیا کې څهٔ دي هغه ټول بې ارزښته دي، هیڅ قیمت نه لري؛ بلکې ملعون دي، پرته له علم او د الله له ذکر څخه او عالم او یا د علم زده کوونکی.

د اسلامي خلافتونو پر مهال په مسلمانانو کې پوهې ژور اغېز درلود، چې په نتیجه کې یې په نړۍ کې د علم او معرفت په مختلفو ډګرونو کې پراخ علمي خوځښتونه را وټوکېدل او مسلمانانو داسې علمي ابتکارات او اختراعات وکړل، چې تر دې مخکې یې نړۍ مثال نه شې موندلای، د همدې علومو او ابتکاراتو له برکته د مسلمانو علماوو په لاس په نړۍ کې یو روښانه اسلامي تمدن رامنځته شو او انساني تاریخ ته یې داسې علمي پانګه ورکړه، چې تر ننه یې ټوله نړۍ پور وړې ده.

که موږ په اسلام او تحریف شوي مسیحیت کې د علم مقام پرتله کړو؛ نو راته جوته به شي، چې په منځنیو پېړیو کې کلیسا او د هغې مذهبي پاپان په کلي ډول له علم، نوښت او ابتکاراتو سره په ټکر کې وو او هر نوی ایجاد به یې له خپل تحریف شوي دین سره تعارض باله، په دې اړه جرمنی ختیځ پوه زیګریس هونک په

منځنیو پېړیو کې په اروپا کې د علم په اړه د اسلام او مسیحیت نظریه سره پرتله کوي، نوموړی وايي: محمد (صلی الله علیه وسلم) هر مؤمن ته (نر دی او که ښځه) لارښوونه کوي، چې علم ترلاسه کړئ او دا یوه دیني وجیبه ګڼي، چې له همدې امله د هغه په لارویانو کې له پوهې سره لیوالتیا ډېره زیاته وه، هغوی غوښتل په مخلوقاتو کې تحقیق وکړي او عجائبات یې وګوري او په همدې وسیله دکائناتو د خالق قدرتونه وپېژني او دا هم جوته ده؛ چې دوی د نورو تمدنونو علوم ځنګه او په څه ډول وکتل او په علمي ډګر کې یې څومره پرمختګونه وکړل. نوموړی پوښتنه کوي، چې د دې په تمامه معنی برعکس، د مسیحیانو پاپ (سینټ پال) ولې د دنیاوي علومو زده کړه حماقت وبلله.

د مثال په توګه کوبرنیکس په (۱۵۴۳ م) کال کې د فلکیاتو په اړه نوې څېړنې وکړې او دا انکشافات یې وکړل، چې لمر د کائناتو مرکز دی او ځمکه د لمر چار چاپېر چورلېږي- پخوا داسې نظریه وه چې ځمکه د کائناتو مرکز دی- خو د نوموړي دغو انکشافاتو په اروپا کې مسیحي پاپان راوپارول، کلیسا دا نظریه په کلکه رد کړه او د مسیحیت له عقائدو سره یې ټکر وبلله او د دوی په وینا، دا ځکه چې که ځمکه مرکزیت نه شي، نو معنی یې دا ده چې دا ځمکه به په ټولو کائناتو کې یوه وړه ټوټه وي، د دوی په نظر دا انکشافات نه دي بلکې مسیحي عقیدې ته غټه ضربه ده، هغه ځمکه چې د دوی په عقیده الله تعالی ورته د یو مجسم شخص په توګه راکښته شوی دی(العیاذ بالله)، دا نه شي کیدلای، چې هغه دې د کائناتو یوه وړه برخه وي.

د کوبرنیکس تر مړینې اتیا کاله وروسته برونو د نوموړي نظریه تائید او د یوڅه زیاتونې سره یې پرمختګ ورکړ او د هغه نظریه یې یو حقیقت وباله، چې له امله یې د کلیسا د تفتیش محکمې د کوبرنیکس د کتابونو لوستل تحریم کړل او د برونو د اعدام پرېکړه یې وکړه. د همدې نظریې د وړاندې کولو له امله نوموړی د روم ښار کې په عام محضر کې په اور وسوځول شو.

نیوټن نړۍ ته د جاذبه قوې د قانون په اړه نوي انکشافات وړاندې کړل، چې په دې انکشافاتو سره نوموړی د کلیسا له خوا سخت تعذیب کړل شو.ځکه د کلیسا په عقیده د دې معنی دا ده؛ چې د قوت تاثیر د الله تعالی له واک څخه مادي قوې ته نقل کیږي او دا له مسیحي دین سره ټکر لري.

دغه راز په اروپا کې کلیسا د پوهانو پرضد نوې محکمې جوړې، کړې چې د هر ډول علمي نوښت مخه به یې نیوله، تر دې؛ چې په اتلس کلونو کې – له (۱۴۸۱م) څخه تر(۱۴۹۹م)- کال پورې یې پر لس زره دوه سوه او شل تنو پوهانو د ژوندي سوځولو پرېکړه وکړه، د شپږ زره اته سوه او شپېته پوهانو د اعدام پرېکړه یې وکړه او په عام محضر کې یې اعدام کړل، اووه نوي زره او دروېشت پوهانو ته یې د ډول ډول سختو شکنجو ورکولو پرېکړه وکړه او د ګالیلیو، ګیورډان ویرنو او نیوټن ټول کتابونه یې تحریم اعلان کړل او خپله د کلیسا مشر کارډینال په غرناطه کې اته زره داسې مخطوطې وسوځولې، چې سرچینه یې له اسلامي علومو څخه اخیستله او دا ځکه چې د دوی په عقیده له کلیسا سره یې ټکر درلود.

اروپا یوه اوږده موده د کلیسا له خوا په تورو تیارو کې وساتل شوه، چې همدې مودې ته د تیارو زمانې (Dark Ages) او یا منځنۍ پېړۍ وايي. چې تقریبا زر کاله په بر کې نیسي، همدا لامل و چې د اروپا د ډیکارټ او ویلټیر په څېر پوهانو او عامو خلکو دا درک کړه، چې د علم د ترلاسه کولو او ابتکاراتو کولو پر وړاندې یوازنی ستر خنډ کلیسا ده، چې باید ورانه شي او دین په کامله توګه له سینو څخه ووځي او انسان مطلق الحاد ته مخه کړي؛ ځکه نو دوی له ټولو مقدسو کتابونو لکه تورات او انجیل سره کلکه دښمني اعلان کړه، د دوی په وینا دا له عقل او علمي حقائقو سره په ټکر کې دي او یوازې عقل کولی شي، حقائق درک کړي او د خیر او شر ترمنځ تمیز وکړي. همدا لامل و؛ چې په لومړي ځل فرانسې او بیا نورو اروپایي هېوادونو دین له سیاست

ځخه جلا کړ.

او بیا د شپاړسمي زېږدیزي پېړۍ په منځ کې په اروپا کې د علمي خوځښتونو او کلیسا ترمنځ ټکر راغی، چې بالاخره د مذهبي مشرانو پرضد پاڅونونه وشول، کلیسا یې له پوهې سره ټکر وبلله او په پایله کې یې په ټوله اروپا کې دین له سیاست او ژوند ځخه جلا کړ.

خو اسلام د کلیسا په څېر کړنې یوه ورځ هم نه دي تر سره کړې او نه یې هم د مسلمانانو د علم ترلاسه کولو پر وړاندې ممانعت یا خنډ جوړ کړی . که په نظري اړخ کې وي او که تطبیقي اړخ وي. بلکې مسلمانان یې علم ترلاسه کولو ته هڅولي او امر یې کړی چې په کائناتو کې تفکر، سوچ او تدبر وکړي، باربار یې انساني عقل مخاطب کړی، چې د خواهشاتو له تابعداري او خرافاتو پرته، د الله تعا لی لارښوونې ومني.

همدا د مسیحیت او اسلام ترمنځ واضح توپیر دی، اروپا له اسلامي تمدن ځخه لس پېړۍ وړاندې په تورو تیارو کې تېر کړل؛ خو کله چې اسلامي تمدن اروپا ته مخه کړه؛ نو هلته نوي علمي خوځښتونه را وټوکېدل د ابتکاراتو او نوښتونو فکر عام شو، چې په نتیجه کې یې اروپا له اسلامي فکر ځخه په استفاده په تدریج سره پرمختګ وکړ او نوی ساینس رامنځته شو.

## له اسلام څخه د سیاست او حکومتولۍ زده کړه

عبدالرشید (ساپی)



په دې کې شک نشته چې د اسلام سپېڅلی دین په هره معنی یو داسې هر اړخیز او بشپړ دین دی؛ چې د انساني ژوند ټولې دُنیوي او اخروي نیکمرغۍ او بریالیتوبونه په کې نغښتي دي او انسان ته یې د ژوند داسې کامله تګلاره روښانه کړې؛ چې تعقیبوونکی یې خامخا د بریا تر کچې رسیږي.

خو متأسفانه؛ په وروستیو کې د غرب شوم افکار او فکري جګړه هغه څه وو، چې مسلمانان یې تر ډېره بریده یرغمل کړل او مسلمانان پرته له کوم غور او فکر کولو ځخه د غرب د شومو افکارو ښکار شول او د ((دین او سیاست د جلاوالي نظریه)) چې په اصل کې د اسلامي نظامونو د ختمولو لپاره بنستیزه توطئیه وه، د مسلمانانو د کمزورو عقائدو له امله یې په دوی کې رشد وکړ او هغه څه یې ومنل؛ کوم چې د اسلام او مسلمانانو لپاره خورا زیانمن وو.

د (( دین او سیاست جلاوالي نظریه)) نه یواځې دا چې علماوو ته

شامله ده؛ بلکې موخه يې د مطلق هر مسلمان دی؛ خو د ډېرې مسلمانانو بيا دی ته پام نه شو او هغوی هم د خپل اقتدار لاس ته راوړلو لپاره د علماوو د ګوښه کولو په موخه دغه شعار غبرګ کړ، چې په پايله کې يې د اسلام مبارک دين دغه دواړه قشرونه په نړيواله کچه د واک له ګدۍ څخه بې برخې شول او په خپل لاس يې ځانونه له نړيوال واک څخه ښکته کړل او دغه فرصت يې بې دينو او په ځانګړې توګه يهودو ته ورکړ.

حال دا چې! ښه او پرمختللې سياست، له اسلام څخه سرچينه اخلي او اړيکه يې هم له اسلام سره پياوړې او نه شلېدونکې ده. که تاريخ ته يوه ځغلنده کتنه وکړو؛ نو روښانه به شي، چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او د هغه د ملګرو په څېر د سياست او نظام اداره کولو ساری نه ليدل کيږي او جوته به شي؛ چې په طول د تاريخ کې د اسلام او مسلمانانو په څېر د سياست په ډګر کې څوک مخينه هم نه لري.

ښېشکه د دې لامل دا کېدای شي؛ چې د اسلام سپېڅلی دين الله جل جلا له د يو کره او مؤثق قانون(قرانکريم) تر څنګ، په يوه داسې لويه هستۍ لورولی، چې په هغه کې د ژوند د مسير ټاکلو لپاره هر راز ښېلګې شته.

الله جل جلا له په قرانکريم کې فرمايي:

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (سُورَةُ الا ٔحزَاب :21)

ژباړه: په يقيني توګه؛ ستاسې لپاره د الله په پيغمبر(د هغه په ژوند کې) د اقتداء يوه خورا غوره ښېلګه ده.

له دې ايت کريمه څخه جوتېږي؛ چې په ژوند کې هره زده کړه، بايد له رسول الله (صلی الله عليه وسلم) څخه وکړو؛ چې دلته د هغه له ژوند څخه، د ښېلګې په توګه د سياسي ستراتېژي يادونه کوو.

په دې کې شک نشته، چې قرانکريم يو قانون دی او الهي قانون ورته ويل کيږي او په دې تړاو له انساني قانون سره د تفکيک لپاره ډېرې وختونه د الهي قانون او وضعي قانون اصطلاحات تکرارېږي، هر کله چې قرانکريم ته قانون وويل شو؛ نو دا يوه منل شوې خبره ده، چې د قانون د پلي کولو لپاره حکومت ته اړتيا ده او له حکومت پرته د قانون تطبيق ناشونی دی؛ نو بيا ولې سياست او دين سره جلا وګڼل شي؟!

له همدې امله؛ د اسلام ستر پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) روزنه د يو نظام چلولو په موخه کيږي او خپل رسالت هم په هغه توګه پيلوي؛ کوم چې د نظام او حکومتولۍ لپاره اساسات او بنسټونه ګڼل کيږي.

ښکاره ده! چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته د الله جل جلا له له لوري وحې د اقرأ (ولوله) په لفظ سره پيل شوه او دا ښايي؛ چې د نظام او حکومتولۍ لپاره زده کړې اړينې دي.

له دې وروسته پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) په کور دننه په پټه دعوت پيلوي، له دې معلومېږي؛ چې د نظام او حکومتولۍ لپاره د خلکو جذب او په کور دننه ملاتړ ته اړتيا ده.

له ملاتړ پيدا کولو وروسته د اسلام پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) خپله تګلاره ښکاره او علني کوي، چې سمدستي د اسلام دښمنانو او مخالفينو له لوري پرې اقتصادي، اجتماعي او سياسي بنديزونه وضع کيږي، چې دا هغه څه دي؛ کوم چې د اسلام د دښمنانو اوسنی انځور او روش په ښه ډول روښانه کوي او موږ ته را ښايي؛ چې اسلامي نظام او حکومتولي به په لومړيو کې له ورته ستونزو او خنډونو سره مخ وي.

د اسلام دښمنان او مخالفين يوازې پر بنديزونو تکيه نه کوي؛ بلکې تر څنګ يې تبليغاتو ته هم ډېر کش ورکوي او د اسلام په پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ډول ډول ټاپې لګوي او په يواو بل نوم يې بدناموي، کله يې ساحر او کله يې له ځانه جوړونکی بولي او په پای کې يې د وژلو پلان جوړوي، لنډه دا چې په وړاندې يې د ژوند دائره دومره راتنګوي، چې هجرت کولو ته يې اړباسي.

خو پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- د دغه هر څه پر وړاندې لاس تر زنې نه کیني او مدینې منورې ته له راتګ سره سم، په دغسې حساسو او ستونزمنو شرائطو کې د اسلامي نظام او حکومتولۍ څخه لاس نه اخلي؛ بلکې عملاً د دې لپاره د مسجد نبوي ډبره ږدي او په دغه مسجد کې یوازې په عبادت تکیه نه کوي؛ بلکې د عبادت تر څنګ د اسلام دین د حاکمیت لپاره، دین له سیاست سره تړي او له دغه ځایه څخه رسماً د اسلامي نظام او حکومتولۍ چارې پیلوي.

سره له دې؛ کله چې د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) مدینې منورې ته راځي؛ نو په دغه وخت کې نږدې وه، چې د مدینې خلک ابن سلول ته د پادشاهۍ تاج ور په سر کړي؛ خو د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په راتګ سره، نوموړی له دغه تاج څخه محرومیږي او له همدې امله؛ له پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره دښمنۍ ته ملا تړي او هغه د خپلې راتلونکې پاچایي ویجاړوونکی بولي.

نو که د دین او سیاست ترمنځ تړاو اړین نه وای؛ نو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) به ابن سلول ته ویلي وای، چې ته حکومت کوه او زه به دعوت کوم!!


خو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د دې هر څه باوجود، بیا هم په هیڅ شان له نظام او حکومتولۍ څخه لاس نه اخلي، چې دا په څرګند ډول د دین او سیاست ترمنځ د تلازم روښانه بېلګه ده.

د نوي حکومت په پیل کې د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) هڅه کوي؛ چې د حکومت له رامنځ ته کېدو سره سم په سر کې په کور دننه ګوانښونه، مخالفتونه او ورته نورې داخلي ستونزې له منځه یوسي او په همدې موخه یې لومړی د مسلمانانو(مهاجرینو او انصارو) ترمنځ د ورور ګلوۍ تړون رامنځ ته کړ او بیا یې د مدینې نورو اوسېدونکو او مسلمانو ترمنځ د یووالي او له دغه نظام څخه د ملاتړ(اسلامي ملاتړ) تړون رامنځ ته کړ، چې دا د نظام او حکومتولۍ په برخه کې، ملي یووالي ته د اړتیا ځانګړې بېلګه ده.

همدارنګه د اسلام پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د نظام او حکومتولۍ پر مخ وړلو لپاره وثیقه یا دستور جوړ کړ، چې په هغې کې یې د غیر مسلمو(یهودانو او عیسویانو) سره د اړیکو، د اقتصادي بحران د مخنیوي او د اقتصادي پرمختګ لپاره قوانین وضع کړل، د مدینې د ساتنې لپاره یې؛ ګډ پیاوړی فوځي قوت رامنځته کړ، حذیفه بن الیمان (رضي الله عنه) یې راز دار کړ، حسان بن ثابت (رضي الله عنه) او عبدالله بن رواحة (رضي الله عنه) یې د دښمنانو د تبلیغاتو د مخ نیوي لپاره وګمارل، له بهر نه د راتلونکو وفدونو او استازو هرکلی به یې کاوه، د ستونزو د حل لپاره به یې مشورتي ناستې کولې او...

چې په ټوله کې؛ دا هر څه د حکومت لپاره د قوانینو(مصوبې) درلودل، اړیکو ټینګول، د اقتصاد رغول، دفاعي او استخباراتي ځواک درلودل، تبلیغاتي ځواک(رسنۍ) فعال ساتل او د یو نظام او حکومتولۍ لپاره د ښه ماډل وړاندې کول روښانه بېلګې دي.

که څه هم؛ د اسلام ستر پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سیرت له ورته ډېرو زده کړو ډک دی، چې دا یې د ژوند او سیاسي تګلارې یوازې یو څو بېلګې وې.که همدغه شان د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټول ژوند مطالعه شي؛ نو معلومه به شي، چې ربښتیا هم د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کې زموږ لپاره هر ډول تګلاره شته او په ځانګړي ډول د ښه نظام او حکومتولۍ په برخه کې، ورڅخه ښه سیاست او ستراتیژي زده کولی شو.



# د اسلامي امارت د بهرني سیاست مهمو اصولو ته کتنه

دکتور محمد فیصل



د افغانستان اسلامي امارت تراوسه د "بهرني سیاست" لیکلې او تدوین شوې پالیسي نه لري. که له یوې خوا د بهرني سیاست په برخه کې د لا ډېرو لاسته راوړنو او غوره چلند لپاره د اسلامي امارت د بهرني سیاست د اصولو لا ډېرې روښانتیا ته اړتیا لیدل کېږي، خو له بلې خوا د سرپرست حکومت له جوړېدو راهیسې په تېر کابو یوه نیم کال کې د اسلامي امارت لوړپوړو چارواکو؛ په تېره بهرنیو چارو وزارت په ګڼو ناستو، ویناوو او ملاقاتونو کې تر ډېره بریده د امارت د بهرني سیاست اصول په شفاهي توګه بیان کړي دي. له دې کبله، په دې لیکنه کې هڅه شوې، چې د ا.ا.ا. د لوړرتبه مسؤولینو له اعلامیو او ویناوو څخه د بهرني سیاست اصول راټول او په لا منظم شکل د لوستونکو مخ ته کېښودل شي. په لاندې کرښو کې د اسلامي امارت د بهرني سیاست په لسو مهمو اصولو بحث شوی:

1- د اسلامیت اصل: د افغانستان اسلامي امارت خپلې ټولې چارې د اسلام سپېڅلي دین د ارشاداتو له مخې تنظیموي او په دې توګه اسلامیت د اسلامي امارت لومړنی او اساسي رکن دی. دا په دې معنا چې اسلامي امارت په خپل کورني او بهرني سیاست کې داسې تګلاره نه مني،چې د اسلام د سپېڅلي دین له معتقداتو او احکامو سره په ټکر کې وي. له لویه سره د اسلامي امارت قیام د همدې هدف لپاره و، چې په هېواد کې سوچه اسلامي نظام نافذ شي.

د امارت په اوایلو کې، په کندهار کې د مذهبي علماوو تر ټولې سترې غونډې ته مرحوم ملا محمد عمر مجاهد پر خپله تاریخي وینا کې د اسلامیت دې اصل ته په دې واضحو ټکو اشاره کړې وه:" طلباوو کرامو چې دا حرکت شروع کړی دی....چا چې پوښتنه کړې ده، چې د طالبانو کوم هدف دی؟ د طالبانو کوم مرام دی؟ طالبانو دا ویلي دي، چې موږ چې یو، دا د خدای پر ځمکه کې، دا د خدای دین پیاده کوو، دا د خدای د کلیمې خدمت کوو، شرعي احکام او حدود د الله برپا کوو. دا یې جواب دی، له اوله ابتدا څخه تر اوسه پورې یې دا جواب دی او دا یې خبره ده، دغه یې هم مرام دی واقعا " . د اسلامي امارت اوسني زعیم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده حفظه الله هم د 1401 کال په 10مه نېټه په کابل کې د دیني علماوو او قومي مشرانو لویې غونډې ته د لویې جرګې په تالار کې وویل،چې زموږ شل کلنه مبارزه د سوچه اسلامي نظام د نفاذ لپاره وه .

- د خپلواکۍ اصل: د هېواد خپلواکي او استقلال ساتل هم د اسلامي امارت د بهرني سیاست له لومړیتوبونو او اصولو څخه دي. د افغانستان اسلامي امارت زعیم په ډاګه ویلي، چې له نړۍ سره د اسلامي امارت تعامل د «اسلام د سپېڅلي دین د احکامو» په رڼا کې دی. له اسلامي احکامو پرته نړیوالو سره د تعامل نه بل معیار مني او نه یې فشارونو ته تسلیمېږي . دا په دې معنی چې اسلامي امارت یو خپلواک او مستقل نظام دی او د هېواد خپلواکي او استقلالیت ساتل یې د بهرني سیاست یو مهم اصل دی.

د لویې جرګې په تالار کې، د اسلامي امارت زعیم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده وویل: "... نن افغانستان په خپله مستقله لاره روان دی - د الله جل جلاله یو عظیم فضل او احسان دی - مستقل دی، د بل په اشاره کار نه کوي. تر هغه وخته د ملک ترقي نه شي راتلای، څو پورې چې ملک استقلال ونه لري، خودارادیت ونه لري. نن دنیا نه غواړي چې د افغانستان حکومت په خپله مستقله اراده باندې روان وي، غواړي چې ددوی په اشاره وچلیږي.... نه د بل په اشاره باندې کار کوو، نه د بل په قومانده باندې کار کوو. په خپله اراده کې مستقل یو.... موږ د هیچا په تناب تړلي نه یو، مستقل یو. الله جل جلاله دې موږ همداسې مستقل وساتي" .

همدارنګه د امیرالمؤمنین د تېر کال په اختریز پیغام کې په څرګند ډول راغلي: "د الله تعالی ډېر شکر ګزار یم، چې سږ کال کوچنی اختر په داسې حال کې نمانځو چې هېواد مو په بشپړ ډول له بېګانه اشغال څخه خلاص شوی، وروسته له ۴۳ کالو څخه د جګړې اور په هېواد کې مړ شوی او د اسلامي حاکمیت تر سیوري لاندې آرام او سوکاله ژوند ته زمینه مساعده شوې ده. الحمدلله والمنه" .

- په بهرنیو اړیکو کې د توازن اصل:
د بهرني سیاست په سل کلن مزل کې افغانستان نه دی توانېدلی، چې د سیمې او نړۍ د لویو قدرتونو تر منځ توازن وساتي. افغان حکومتونه کله د ختیځ او کله هم د لوېدیځ لمنې ته لوېدلي دي، کله یې ختیځ ته دوست ویلی او لوېدیځ یې دښمن ګڼلی او کله یې لوېدیځ ته دوست ویلی او ختیځ یې دښمن ګڼلی دی.
د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست په دې ټکو کې بیان کړی دی: «د افغانستان اسلامي امارت بهرنی سیاست مثبت، بې طرفه، متوازن او اقتصاد محوره دی» . متوازن سیاست په دې معنا چې له یوې خوا به د نړیوالو او سیمه‌ییزو قدرتونو ترمنځ په اړیکو کې توازن ساتي او له بلې خوا به د دغو قدرتونو ترمنځ په شخړو کې طرف نه نیسي.
په دې اړه د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین شیر محمد عباس ستانکزی وایي: «اوس په دې شرایطو کې چې کله «بهرنی متوازن سیاست» مطرح کیږي، منظور ترې د هېواد د ملي ګټو د تحقق لپاره د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو د رامنځته کولو او د همکاریو غوښتلو لپاره کوښښونه دي. موږ نه غواړو، چې زموږ په هېواد کې د نړۍ د قدرتونو شتون او لاسوهنې ته زمینه برابره شي. ځکه دغه کار د نورو ټولو هېوادونو د حساسیت د تحریک سبب ګرځي او هېواد مو د سیمه ییزو یا نړیوالو ځواکونو د سیالۍ پر ډګر بدلیږي». هغه زیاتوي: «موږ د متوازن بهرني سیاست په چوکاټ کې اجازه نه ورکوو، چې روسیه، چین، امریکا، هند، پاکستان او نور هېوادونه د افغانستان په جغرافیه کې یو له بل سره سیالي وکړي. په ضمن کې موږ هڅه کوو چې له دغو ټولو هېوادونو سره مثبتې او د متقابل درناوي او همکاریو پرېنسټ ولاړې اړیکې جوړې کړو او په دې توګه به «بهرنۍ متوازنه پالیسي» اجازه ور نه کړي چې افغانستان د بهرنیو شخړو د ثقل مرکز وي» .

دا چې د متوازن بهرني سیاست پایلې به څه وي؟ په دې اړه د بهرنیو چارو وزارت مالي او اداري معین رحمت الحق فضیل صاحب لاندې ټکو ته اشاره کړې:

ا) متوازن بهرنی سیاست په بهرنیو تعاملاتو کې د دښمنانو د رامنځته کېدو مخه نیسي، نو ځکه به د هېواد لپاره منفي پایلې ونه لري.

ب) متوازن بهرنی سیاست د داخلي پراختیایي طرحو لپاره اقتصادي او امنیتي ضروري فرصتونه رامنځته کوي.

ج) متوازن بهرنی سیاست د هېواد جغرافیه د سیمه‌ییزو او نړیوالو قدرتونو ترمنځ د رقابتونو پر ډګر له بدلېدو څخه ژغوري.

د) همدارنګه متوازن بهرنی سیاست تصمیم نیوونکو چارواکو ته د فرصتونو پېژندلو لپاره اړینه فضا چمتو کوي. همدارنګه د دې امکان زیاتوي، چې په بهرني سیاست کې ګواښونه په فرصتونو بدل شي . په دې کې شک نشته چې متوازن سیاست د ټولو په ګټه دی؛ هم د افغانستان، هم د سیمې او هم د نړۍ. دا چې هند او پاکستان، ایران او سعودي عربستان، روسیه او چین، د ټولو سفارتونه او سیاسي نمایندګۍ په کابل کې فعالې دي او اسلامي امارت هڅه کوي، چې له ټولو هېوادونو سره رغنده او مثبتې اړیکې ولري، دا په ډاګه کوي چې اسلامي امارت متوازن بهرني سیاست ته متعهد دی. همدا ډول سیاست کولای شي، چې هم افغانستان له نیابتي جګړو وژغوري او هم یې د اقتصادي پرمختګ په لوري سوق کړي.

۴- د عدم مداخلې اصل:

امیرالمؤمنین د تېر کال د کوچني اختر په پیغام کې یاد اصل ته په اشارې سره ویلي: "د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره، همدا ډول له ټولو نړیوالو سره، ښې او مثبتې اړیکې غواړي. موږ اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه هېڅ کوم بل هېواد ته تهدید متوجه شي. همدا ډول له نورو هېوادونو هم غواړو، چې له موږ سره ورته ښه، مثبت او په متقابل درناوي ولاړ تعامل ولري".

همدارنګه د اسلامي امارت د رئیس الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په یوه وینا کې ویلي: "موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړو او له دوی هم غوښتنه کوو، چې له موږ سره خپلې متقابلې اړیکې رغنده او عادي حالت ته راولي."

۵- د متقابل احترام اصل:

د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د افغانستان اسلامي امارت ډاډ ورکړی، چې د دوی په داخلي چارو کې به لاسوهنه نه کوي. په دې هیله چې دوی به هم د متقابل احترام پر بنسټ د افغانستان په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کوي.

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي په خپله لومړۍ کاري ورځ (د ۲۰۲۱م د سپتمبر په ۹مه) د بهرنیو چارو وزارت د کارکوونکو په حضور کې اعلان وکړ، چې موږ به له نړۍ سره خپلې اړیکې د همکارۍ او متقابل احترام پر بنسټ تنظیم کړو . نوموړي په یوه بله غونډه کې وویل: "په افغانستان کې امنیت او ثبات د سیمې د ټولو هېوادونو په ګټه دی او اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام پر بنسټ دوه اړخیزو اړیکو ته ژمن دی". همدارنګه نوموړي په ترکیه کې د انتالیا فورم په غونډه کې وویل: "افغانستان غواړي د ماضي پاڼه واړوي او له سیمې او نړۍ سره د تفاهم، مشترکو او مشروع ګټو او همکاریو پر اساس پر مخ ولاړ شي. په داسې حال کې چې د سیمې او نړۍ ټولو دولتونو ته یو ځل بیا ډاډ ورکوو، چې د افغانستان خاوره به د نړۍ د سولې او امنیت پر خلاف نه کارېږي، له نورو هېوادونو څخه هم د بالمثل عمل غوښتنه کوو".

٦ـ د اقتصاد محورۍ اصل:

د اسلامي امارت  بهرنی سیاست د سیمه‌ییز پیوستون او اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا پر اصل ولاړ دی. د افغانستان جیو ایکانومیکي موقعیت دا ایجابوي چې د منځنۍ اسیا او جنوبي او

او ختیځې اسیا ترمنځ د یوې دروازې او کوریډور په حیث رول ادا کړي . د «اقتصاد محوره بهرني سیاست» له لارې اسلامي امارت په دې اړه د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره په جدي خبرو بوخت دی. اسلامي امارت هوډ لري، چې د سیمې اقتصادي پروژې لکه تاپي، ټاپ، کاسا ۱۰۰۰، ... او داسې نورې پروژې عملي بڼه خپله کړي. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي په انتالیا فورم کې وویل: "د سرتاسري امنیت، اداري فساد څخه پاک او یوه متعهد حکومت لرلو له برکته افغانستان چمتو دی، چې په سیمه کې د لویو اقتصادي پروژو د پلي کېدو له لارې د امن پر سنګر او د سیمه‌ییز اقتصادي اتصال او ښېرازۍ پر مرکز بدل شي".

د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین د اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سیاست په اړه وايي: "زموږ جیو ایکانومیکي موقعیت په دې ډول دی، چې په منطقه کې اقتصادي تعاملات اړین کوي. د اقتصادي جغرافیې له نظره، افغانستان د آسیا د شمال او جنوب او د ختیځ او لویدیځ د وصل نقطه ده. څکه نو د افغانستان په بهرني سیاست کې اقتصادي پراختیا او تحرک هم په افغانستان او هم په منطقه کې د «اقتصاد محوره» بهرني سیاست غوره کولو ته اړتیا لري. له همدې امله اسلامي امارت هڅه کوي چې په سیمه کې د دې اتصال او اقتصادي خوځښت لپاره زمینه برابره کړي".

۷- بشري حقونو ته د درناوي اصل:

د افغانستان اسلامي امارت د بشري حقونو د هغو نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونو ملاتړ ته ژمن دی، چې له اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي. دا چې په اسلام کې انسان ته د انسان په توګه تر ټولو لوړ درناوی ورکړل شوی، اسلامي امارت په خپل بهرني او کورني سیاست کې دغه اصل په جدیت سره مراعاتوي او پر پلي کېدو یې ټینګار کوي.

د اسلامي امارت لوړ پوړو مسؤولینو په مکرر ډول په ډاګه کړې چې د اسلامي ارزښتونو په چوکاټ کې بشري حقونو ته درناوی لري.

د اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخند د ۱۴۰۱ لمریز کال د لوی اختر د لمانځه په مراسمو کې، چې د افغانستان اسلامي امارت یو شمېر نورو ملکي او نظامي مقاماتو هم پکې ګډون درلود، وویل: اوازې دي چې اسلامي امارت د بشر حقونه نه مراعاتوي، داسې نه ده. موږ د اسلامي ارزښتونو په چوکاټ کې د بشر حقونه مراعاتوو او ورته پابند یو

د رئیس الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د ملګرو ملتونو سازمان له استازي ریچارډ بنټ سره په لیدنه کې (۱۴۰۱، میزان ۹مه) د افغان هندوانو او سکانو د ملاتړ تر څنګ، د نجونو د زده‌کړو پر حق، د ښځو پر حقونو، بشري حقونو، د رسنیو حقونو او د رسنیو پر فعالیتونو خبرې وکړې. مولوي عبدالسلام حنفي وویل: "اسلامي امارت هغو ټولو نړیوالو میثاقونو او کنوانسیونونو ته ژمن دی، چې له اسلامي اصولو او زموږ له ملي ګټو سره په ټکر کې نه وي... زموږ ټول هېوادوال د خپلو مراسمو په ترسره کولو کې آزاد دي او موږ د دوی د امنیت تامین خپل مسؤلیت ګڼو. موږ د ښځو ټولو شرعي او اسلامي حقونو ته ژمن یو او د تامینولو لپاره یې هڅې کوو".

۸- له اسلامي نړۍ سره د اړیکو د لومړیتوب اصل:

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال، د افغانستان لپاره د قطر له سفیر سره (د ۱۴۰۱ لمریز کال د لړم په ۱۳مه) په لیدنه کې ویلي، چې کابل غواړي د قطر په منځګړیتوب له اسلامي هېوادونو او نورې نړۍ سره ښې اړیکې جوړې کړي. د ارګ ټویټر پاڼې د مولوي عبدالکبیر له قوله لیکلي: "موږ د قطر په همکارۍ او منځګړیتوب غواړو له اسلامي هېوادونو او نورې نړۍ سره ښې اړیکې جوړې کړو".


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

۹- په نړیوال امنیت کې د همکارۍ اصل:
د یوه جنګ ځپلي او دردېلي هېواد په توګه د افغانستان ملي ګټې دا ایجابوي، چې په دې حساسه مرحله کې ارام او سوله‌ییز واوسي. د سیمې او نړۍ له هېڅ هېواد سره نه ټکر وکړي او نه ورسره اړیکې پرې کړي. له څو لسیزو جګړو وروسته افغانستان څو نورو لسیزو ته ضرورت لري، چې پر خپلو پښو ودرېږي.
په سیمه او نړۍ کې د افغانستان حساس او ستراتیژیک اهمیت ته په کتو، د ا.ا.ا. ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکوي، چې د افغانستان جغرافیه به د هېچا پر خلاف نه استعمالیږي، هېڅوک باید د افغانستان له خاورې د خطر احساس ونه کړي. د ا.ا.ا. به هیڅ ډلې او فرد ته اجازه ورنه کړي، چې د افغانستان له حریم څخه په استفاده د بل هېواد پر خلاف سیاسي یا نظامي فعالیت وکړي.
د تېر کوچني اختر د مبارکۍ په پیغام کې امیرالمؤمنین یاد اصل ته په اشارې سره ویلي: "امنیت د آبادۍ او ښېرازۍ لومړی شرط ګڼل کیږي. د اسلامي امارت ځواکونو د خورا سترو قربانیو په ورکولو سره ډاډمن امنیت ټینګ کړی... موږ اجازه نه ورکوو چې له افغانستان څخه هیڅ کوم بل هېواد ته تهدید متوجه شي..." .
همدارنګه په لویه جرګه کې نوموړي ویلي وو: "که زموږ د ملک ګاونډیان دي، دوی دې هیڅ داسې احساس نه کوي، چې موږ د دوی په حق کې بده اراده لرو. موږ هېڅ بده اراده نه لرو. اسلام د سلامتیا نوم دی، سلامتیا غواړو، امن غواړو، سوله غواړو، ارام ژوند غواړو..." .
له بلې خوا، مولوي عبدالسلام حنفي په یوه وینا کې ویلي: "افغانستان په اسیا کې مهم ځای لري، زموږ امنیت د اسیا او حتی د ټولې نړۍ لپاره د اهمیت وړ دی او که خدای مه کړه افغانستان نا امنه شو، نو پر ټوله اسیا به منفي اغېزه وکړي، نو اړینه ده چې د سیمې هېوادونه د افغانستان له اوسني امنیت څخه حمایت وکړي او هغه غنیمت وګڼي..." . مولوي امیر خان متقي هم د ترکیې د انتالیا په فورم کې د دوحې تړون ته په اشارې سره وویل: "له نړۍ سره مخلصانه وعده وشوه چې د افغانستان خاوره به د چا پر خلاف نه کارول کیږي" .
۱۰- په نړیوال نظام کې د ګډون اصل: دا چې نړۍ اوس پر یوه کلي بدله شوې او فرصتونه او ګواښونه یې مشترک دي، د ا.ا.ا. د نړیوالې کورنۍ د یوې برخې په توګه خپلو نړیوالو دندو او مسؤولیتونو ته ژمن دی . په دې لړ کې، یوازې نړیوالې همکارۍ کولی شي یادو خطرونو ته ځواب ووایي. د ا.ا.ا. په دې مورد کې د یوه مسؤل حکومت په توګه له نړیوالو سره لازمو همکاریو ته ژمن دی.
امیر المؤمنین په خپل اختریز پیغام کې هم ویلي، چې اسلامي امارت له خپلو ژمنو اخوا هم له نړیوالې ټولنې سره همکاریو ته چمتو دی. په دې شرط چې نړیواله ټولنه اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. په دې تړاو اعلامیه وایي: "بې له شکه چې نړۍ د یوه کلي حیثیت پیدا کړی، د هېوادونو ترمنځ تعاملات یو له بل سره تړلي دي، زموږ هېواد –افغانستان- د نړۍ په سوله او امن کې خپل رول لري، د همدې اړتیا پر اساس په کار ده،چې نړیوال د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني، ترڅو خپلې ټولې ستونزې د دپلوماتیکو نورمونو او اصولو په چوکاټ کې په رسمي او مسئولانه توګه حل کړو". نوموړی زیاتوي: "...د افغانستان اسلامي امارت له خپلو ټولو ګاونډیو او سیمه‌ییزو هېوادونو سره، همدا ډول له ټولو نړیوالو سره ښې او مثبتې اړیکې غواړي...".
د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني هم پر نړیوالې ټولنې د مثبت او مشروع تعامل غږ کړی. نوموړي څرګنده کړې چې د افغانستان اسلامي امارت له نړۍ سره اقتصادي او ډیپلوماتیکو اړیکو ته چمتو او لېواله دی او افغانستان به هېڅکله نورې نړۍ ته د ګواښ ادرس ونه اوسي .

له دې تېرولو څرګندېږي،چې د افغانستان اسلامي امارت په نړیوال نظام کې ګډون او نړیوالو سره همکارۍ ته متعهد دی او په دې اړه مسؤلانه چلند کوي. په دې کې هېڅ شک نشته چې له نړیوالو سره په مختلفو ډګرونو کې همکاري کول د نړیوال امنیت او سولې لپاره اړین دي.

سرچینې:

۱.ثالث عمر، قاري عبد الستار سعید (۱۴۰۰) چاپ: المجاهد خپرندویه اداره، ۱۲۱

۲.د علماوو په لویه غونډه کې د شیخ صاحب وینا، ملي تلویزیون، په آنلاین بڼه: https://www.youtube.com/watch?v=Qot۱EuMe۹zs (۲۰۲۳-۱-۲۲)

۳.تعامل ما به جهان به اساس شریعت است، په آنلاین بڼه: https://www.bakhtarnews.af/dr/امیرالمومنین-حفظه-الله-تعامل-ما-با-جه-۲/ (۲۰۲۳-۱-۲۲)

۴.د علماوو په لویه غونډه کې د شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده وینا، په آنلاین بڼه: https://www.youtube.com/watch?v=Qot۱EuMe۹zs (۲۰۲۳-۱-۲۲).

۵. د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت د امیر المؤمنین د مبارکۍ پیغام، په آنلاین بڼه: https://www.bakhtarnews.af/د-نیکمرغه-کوچني-اختر-د-را-رسیدو-په-مناسب/(۲۰۲۳-۱-۲۲)

۶.https://pajhwok.com/fa/۲۰۲۲/۰۱/۱۱/mottaqi-the-foreign-policy-of-the-afghan-government-is-positive-neutral-balanced-and-economically-oriented/ (۲۰۲۳-۱-۹)

۷. د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز (۱۴۰۱) "د بهرنیو چارو وزارت؛ یوکلن فعالیتونه او لاسته راوړنې"، کابل: د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۶۴.

۸. تېر ماخذ، ۱۶۳-۱۶۴.

۹. https://www.bakhtarnews.af/د-نیکمرغه-کوچني-اختر-د-را-رسیدو-په-مناسب/(۲۰۲۲-۱۱-۱)

۱۰.https://asa.gov.af/ps/node/۱۵۱۳ (۲۰۲۳-۱-۱۱)

۱۱.د بهرنیو چارو وزارت؛ یوکلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، ۱۵۱.

۱۲.https://bakhtarnews.af/dr/مولوی-امیرخان-متقیپاکستان-به-عنوان-یک. ۱۳. د بهرنیو چارو وزارت؛ یوکلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، ۱۰۵.

۱۴.تېر ماخذ، ۱۶۴. ۱۵.تېر ماخذ، ۷۳،۱۶.تېر ماخذ، ۱۰۵. ۱۷.تېر ماخذ، ۱۶۴.

۱۸..https://arg.gov.af/pa/post_details/news/eyJpdiI۶IjJCV۱VyNHp۲R۲۹OZnV۰OTI۳dVNPWnc۹PSIsInZbHVlIjoiVXBMOGsrVGZKeXc۳TWtzV۲ZGczNiZz۰۹IiwibWFjIjoiZWExMTViMzE۰N۲NhNmVkMzc۲NWU۴MDhjYjc۱OTQyYTU۰YmY۴NWM۵NDQ۵YmQzMjI۳Nzg۳ZTUyOGNhYWVjMmE۲MyJ۹ (۲۰۲۳-۱-۲۱)

۱۹.https://www.khaama.com/persian/archives/۹۹۶۲۲

۲۰.https://twitter.com/ARG_۱۸۸۰/status/۱۵۸۸۳۷۲۷۹۴۱۶۰۴۸۸۴۸ (۲۰۲۲-۱۱-۴)

۲۱.د بهرنیو چارو وزارت؛ یوکلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، ۱۵۱.

۲۲.تېر ماخذ، ۱۴۷-۱۴۸

۲۳.تېر ماخذ، ۱۵۰.

۲۴.تېر ماخذ او پاڼه.

۲۵.https://dailies.gov.af/?p=۲۶۸۰

۲۶.https://www.bakhtarnews.af/د-نیکمرغه-کوچني-اختر-د-را-رسیدو-په-مناسب/ (۲۰۲۲-۱۱-۱)

۲۷.د علماوو په لویه غونډه کې د شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده وینا، ملي تلویزیون، په آنلاین بڼه: https://www.youtube.com/watch?v=Qot۱EuMe۹zs (۲۰۲۳-۱-۲۲)

۲۸.https://asa.gov.af/ps/node/۱۵۱۳ (۲۰۲۳-۱-۱۱)

۲۹.د بهرنیو چارو وزارت؛ یوکلن فعالیتونه او لاسته راوړنې، ۱۰۴.

۳۰.https://www.bakhtarnews.af/د-نیکمرغه-کوچني-اختر-د-را-رسیدو-په-مناسب/ (۲۰۲۳-۱-۲۲)

۳۱.https://bakhtarnews.af/د-افغانستان-اسلامي-امارت-له-نړۍ-سره-اقت(۲۰۲۳-۱-۲۰)

# بررسی روابط اقتصادی پاکستان با امارت اسلامی افغانستان !

مصطفی (حسینی)



**مقدمه:**

اهداف و منافع ملی یکی از مفاهیم اساسی و کلیدی در مطالعات سیاست خارجی و روابط خارجی کشورها می‌باشد. پاکستان واقع شده در منطقه آسیایی جنوبی، نیز از اصول سیاست خارجی خود که به دنبال حفاظت، ترویج و پیشبرد منافع ملی خود میباشد، مستثنی نیست. نهادهای چون وزارت امور خارجه، احزاب سیاسی، دستگاه استخبارات از جمله نهادهای مهم و تاثیر گزار در عرصه سیاست خارجی پاکستان می‌باشند. براساس نظریه سازه انگاران؛ تعامل کشورها اگر براساس دوستی شکل بگیرد، منافع مشترک و همگرایی بوجود آمده و امنیت برقرار می‌گردد.

پاکستان بخشی از شبه جزیره هندوستان بوده که در سال ۱۹۴۷ از هند جدا شده و به استقلال دست یافت. پاکستان از شمال با کشور های افغانستان و چین، از شرق با هند، از غرب با ایران و افغانستان و از جنوب با دریای عرب مجاور می‌باشد. افغانستان و پاکستان با وجود پیوندهای نزدیک و عمیق فرهنگی و نژادی، همواره روابط پر تنش و با فراز ونشیب‌های داشته اند و همواره یکدیگر را در نا امن‌سازی کشورهای شان متهم کرده اند. دلیل عمده آن اختلاف‌های مرزی خط دیورند است. همچنان اختلاف ریشه در ماجرای قومیت نیز دارد و نماد آن مسئله پشتونستان است که از همان ابتدا افغان ها نسبت به سیاست های پاکستان نگرش منفی دارد.

## چارچوب سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان:

پس از پیروزی امارت اسلامی افغانستان در ۱۵ اگوست ۲۰۲۱؛ فصل جدید از سیاست خارجی و روابط سیاسی میان افغانستان و کشورهای همسایه، منطقه و جهان شکل گرفت. سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان متوازن و اقتصاد محور می باشد. همچنان عدم مداخله در اختلافات خارجی و عدم مداخله در امور داخلی کشورها و تعامل مثبت در راستای تامین منافع ملی کشور، از شاخصه‌های بارز سیاست خارجی افغانستان اند. ایران، پاکستان، قطر، چین، روسیه، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرقیزستان از جمله کشورهای اند که با روی کار آمدن امارت اسلامی، سفارت‌هایشان در کابل فعال می‌باشند.


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

## موافقتنامه های تجاری:

براساس تئوری‌های روابط بین الملل، همکاری در حوزه اقتصادی موجب افزایش وابستگی متقابل گردیده و همکاری در سایر حوزه‌ها بوجود آمده و نهایتا سبب همگرایی میان کشورها می گردد. همچنان باعث کاهش منازعه و تنش ها میان کشورها می گردد.

افغانستان با داشتن ژئوپلیتیک حساس و مهم، پتانسیل وصل کردن کشورهای آسیای جنوبی را به آسیایی مرکزی داشته و همچنان بازار مناسب برای محصولات پاکستانی میباشد. کشورهای جنوب آسیا به خصوص پاکستان با مشکل کمبود انرژی مواجه بوده و در عین حال کشورهای آسیایی مرکزی به مازاد انرژی مواجه اند بنابرین میان افغانستان و پاکستان موافقت‌نامه‌های به امضا رسیده است تا میان پاکستان و کشورهای آسیای مرکزی از طریق افغانستان، راه‌های ترانزیتی ایجاد گردد.

### ۱. موافقنامه (ATTA):

برای بار اول در سال ۱۹۶۵ میلادی میان افغانستان و پاکستان توافقنامه دوجانبه تجارت وترانزیت (ATTA) منعقد گردید. بر اساس موافقتنامه پاکستان تسهیلات ترانزیتی برای افغانستان ایجاد کرد. این تسهیلات درواقع استوار بر مواد کنوانسیون ۱۹۵۸ سازمان ملل متحد در باره قانون دریاها به کشورهای که محصور در خشکی هستند، میباشد. این موافقنامه برای برآورده شدن اهدافی مانند بهبود وضعیت سود بردن دو کشور از نقل و انتقال کالاها از این راه ترانزیتی ایجاد شده، بود. طبق شرایط این موافقتنامه، ترانسپورت هردو کشور میان هم آزاد بود. نظر به این موافقتنامه دو مسیر ترانزتی وجود داشت، یکی پیشاور-تورخم و دیگری چمن-سپین بولدک.

### ۲. موافقتنامه تجاری و ترانزیتی بین افغانستان و پاکستان (APTTA):

با توجه به نقیصه های که موافقتنامه ATTA داشت و نمی توانست نیازمندی‌های تجارت امروزی را برآورده کند، موافقت نامه تجارت و ترانزیت افغانستان و پاکستان (APTTA) در سال ۲۰۱۰ بین دوکشور به امضا رسیده و در واقع جاگزین موافقت نامه ATTA گردید. براساس این توافقنامه، موتر های باربری افغانستان میتوانند به بندر های مهم در پاکستان مانند دریای کراچی، بندر گوادر و بندر قاسم دسترسی داشته باشند و همچنان تجاران افغان میتوانند از طریق دو بندر سوست و واگه اموال صادراتی خویش را به کشور های چین و هند صادر نمایند ولی موتر های باربری افغانها نمی توانند اموال هندی را از بندر واگه به افغانستان بیاورند. بر اساس این موافقت‌نامه افغانستان تسهیلات گسترده برای صدور کالاهای تجارتی پاکستان به بازارهای آسیای میانه را فراهم می‌سازد. وزارت مالیه کشور به منظور تسهیلات لازمه پیرامون تطبیق موافقتنامه مذکور، رهنمون گمرکی را در سال ۱۳۹۳ خورشیدی به گمرکات مربوطه ابلاغ کرد.

### تمدید موافقتنامه (APTTA) از سوی امارت اسلامی افغانستان:

توافقنامه اپتا ۲۰۱۰ الی موافقتنامه جدید تمدید میان مقام های امارت اسلامی و هیات بلند رتبه پاکستان تمدید گردید. در این راستا لاری های تجاری افغانستان به صورت آزاد توانایی تردد در خاک پاکستان به شمول مسیر بندر واگه الی کشور هندوستان را دارد. براساس این توافق هیچگونه محدودیت زمانی وجود نداشته و زمان از پنج روز به هفت روز افزایش میابد.


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

### ۳. خط آهن کابل و پشاور:

این پروژه یکی از حیاتی‌ترین پروژه‌های ترانزیت و تجارت میان افغانستان و پاکستان بوده و در عین به شکل بالقوه توانایی محقق ساختن گسترش تجارت، ترانزیت، سرمایه‌گذاری و نهایتا همکاری و همگرایی میان کشورهای آسیای مرکزی و جنوبی را در خود دارد. خط آهن کابل-پشاور از مسیر ترمذ، مزار، هرات،کندهار و کویته خواهد گذشت.

این پروژه ۵۷۳ کیلو متر طول داشته و در یک سال زمینه انتقال حدود ۲۰ میلیون تن کالا را مساعد خواهد ساخت. در تماس ویدیویی که میان مولوی امیر خان متقی، وزیر امور خارجه و سردار عمر زاکوف، معاون نخست وزیر تجارت و سرمایه‌گذاری جمهوری ازبیکستان انجام شد، پیرامون گسترش تجارت، ترانزیت و ترانسپورت میان افغانستان و ازبیکستان و همچنان نهایی‌کردن نقشه راه همکاری‌ها میان دو کشور و نقشه خط آهن ترمذ-مزار شریف-کابل-پشاور گفتگوهای سودمند صورت گرفت.

### میزان تجارت و ترانزیت میان افغانستان و پاکستان:

بر اساس گزارشات، با جاری شدن سیلاب های اخیر در پاکستان بسیاری از زمین‌های کشاورزی را ازبین رفته و باعث افزایش نرخ میوه جات و ترکاری گردیده است. دولت پاکستان به منظور کنترول بازارها و تامین نیازهای داخلی خود، تعرفه‌های پیاز و بادنجان رومی بر تجاران افغان را کاهش داده است. پاکستان در ماه میزان سال جاری حدود ۴۰۰ موتر بادنجان رومی و پیاز را روزانه وارد کرده است و هم اکنون روزانه ۱۰۰۰ الی ۱۲۰۰ تُن ترکاری نیز از بنادر تجارتی تورخم، غلام خان و سپین بولدک وارد پاکستان می‌گردد.

ذغال سنگ یکی دیگر از محصولات صادراتی افغانستان است که از ولسوالی‌های بلخاب، دره صوف، کهمرد و تاله و برفک در ولایات سرپل، سمنگان ، بغلان و بامیان استخراج می‌گردد. در گذشته، پاکستان این محصول را از کشورهای آفریقایی وارد می‌کرد، اما بدلیل جنگ اوکراین و تقاضای بیش از حد و افزایش قیمت ذغال سنگ در بازار های جهانی، پاکستان خواستار تامین آن از کشور افغانستان گردیده و در ماه‌های پسین، حدود ۵۰۰ هزار تن ذغال سنگ به قیمت معیاری از افغانستان به آن کشور صادر گردیده است.

افغانستان سومین مقصد صادراتی محصولات پاکستانی بوده اما این روند در چند سال گذشته تغییر کرده است. صادرات پاکستان به افغانستان از ۱،۰۱۸ میلیارد دالر در سال ۲۰۲۰-۲۰۲۱ به ۷۱۷،۵۳ میلیون دالر در سال ۲۰۲۱-۲۰۲۲، ۳۰ در صد کاهش یافته است.

از زمان آغاز حکومت امارت اسلامی، اسلام آباد به کابل در کنار سایر کمک‌های بشردوستانه، معافیت از مالیات و مالیات بر میوه‌های تازه و خشک، سبزیجات و چندین محصول دیگر را پیشنهاد کرده که در نتیجه، واردات کالا از افغانستان افزایش بی سابقه‌یی داشته است.

واردات از افغانستان از ابتدای سال مالی ۲۰۲۲ الی تاریخ نگارش این تحقیق، به ارزش ۸۰۱،۲۸ میلیون دالر در مقایسه با ۵۸۳،۵۹ میلیون دالر نسبت به سال قبل رسیده که ۳۷ درصد افزایش را نشان می‌دهد.


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg



## نتیجه گیری:

چنانچه تذکر یافت، شالوده سیاست خارجی امارت اسلامی افغانستان اقتصاد محور بوده و در این راستا، تلاش‌های گسترده صورت گرفته تا اهمیت ژئواکونومی و ژئوپلیتیکی افغانستان را برجسته و حداکثر نقش آن را در فرایند امنیت، اقتصاد و سیاست بکار بگیرد. پس از روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان، میزان صادرات افغانستان به پاکستان افزایش یافته که بیانگر نکته عطف و فصل جدیدی در روابط، تعاملات و تجارت میان افغانستان و پاکستان می‌باشد. حمل‌ونقل کالاهای تجاری میان کشورهای پاکستان و اوزبیکستان با همدیگر از طریق افغانستان صورت می‌گیرد. بر اساس تمدید موافقتنامه (APTTA) و به منظور توسعه ارتباط منطقه‌یی، تعرفه‌ها بر حمل و نقل از افغانستان به پاکستان و کالاهای تجاری افغانستان کاهش یافته است.

ذغال سنگ، میوه جات و ترکاری مانند بادنجان رومی و پیاز از اقلام صادراتی افغانستان است که به صورت چشمگیر به پاکستان صادر می‌گردد.

## منابع و ماخذ:

۱. یاسا، حسین (۲۰۲۱). ابعاد سیاسی توافق‌نامه تجاری-ترانزیتی افغانستان و پاکستان.
subhekabul.com/afghanistan-pakistan-trade-transit-agreement
۲. شهیر، تمیم. (۱۴۰۱). افزایش میزان صادرات زغال سنگ افغانستان به پاکستان. گرفته شده از https://tolonews.com/fa/business
۳. گزارش. (۱۴۰۱). طالبان قیمت زغال سنگ را بیش از دو برابر افزایش دادند. گرفته شده از https://www.dw.com/fa-af
۴. گزارش. (۱۴۰۱). طالبان قیمت زغال سنگ را بیش از دو برابر افزایش دادند. گرفته شده از https://www.dw.com/fa-af
5. Amir, Samir s; Attar Wala, Fatima. (2015). Afghanistan's Transit Trade Patterns Pre & Post APTTA. The Pakistan business council. 1-163.
6. Paswan, Nawal K. (2020). Aghan-Pak trade transit Agreement: status, challenges and implications. Peace and conflict & management studies. 1-40.

# څنګه کولای شو، چې افغانستان په اقتصادي څلور لارې بدل کړو؟!

محمد کوثر (دولتزی)




افغانستان د اسیا زړه بلل کېږي، چې بېلابېلې سیمې، په ځانګړې توګه منځنۍ اسیا(د تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان له لارې) جنوبي اسیا(د پاکستان له لارې) او منځني ختیځ(د ایران له لارې) نښلوي.
دغه هیواد د درې تریلیون ډالرو په ارزښت معدني زیرمې لري. افغانستان د خپلې اقتصادي ودې د پیاوړتیا لپاره د خپلو معدني سرچینو لپاره سیمه ییز اتصال ته اړتیا لري.
د سیمه ییز اتصال پروژې کولی شي،چې په راتلونکي کې د افغانستان اقتصاد ته وده ورکړي، په دې شرط چې سوله دوامداره شي. سیمه ییز اتصال به د افغانستان د ځپل شوي اقتصاد په بیا رغونه کې هم مرسته وکړي او افغانستان به د هند له ستر بازار سره ونښلوي. په هېواد کې دننه ښې زیربناوې او معیاري سړکونه به هیوادونو ته اجازه ورکړي چې د هوایي لارو پرځای د ځمکنیو لارو له لارې تجارت وکړي، چې د اوسنیو هوایي لارو په پرتله خورا ارزانه دي.
د افغانستان ستراتیژیک موقعیت له ډیرې مودې راهیسې د دې هیواد لپاره د رقابتي ګټې په توګه بلل کیږي.

د افغانستان اقتصاد به په هغه صورت کې بدلون ومومي او اقتصادي وده به ترلاسه کړي، چې دغه هېواد وکولای شي له خپل جغرافیایي موقیعت څخه ګټه واخلي او ځان د سوداګرۍ او ټرانزیټ پر سیمه ییز مرکز بدل کړي.

دې موخې ته د رسېدلو لپاره افغانستان په کور دننه پراخه زیر بناوو او په بهر کې خورا فعالې ډیپلوماسۍ ته اړتیا لري.

همدارنګه افغانستان کولی شي،چې د سیمه ییز اتصال پروژو؛ لکه؛ د چین د یو کمربند او د یوې لارې نوښت (BRI) ،د روسیې، هند او د ایران نړیوال شمال-جنوب ترانسپورت دهلیز (INSTC) څخه ګټه پورته کړي.

## د افغانستان د څلور لارې کیدو پر وړاندې ننګونې:

۱. د سیمې او نړۍ هیوادونه فکر کوي، چې ګواکې افغانستان د سیاسي بې ثباتي په حالت کې پاتې دی او دا توان به ونه چې په سیمه کې خپل دریځ پیاوړی کړي، ترڅو د سیمه ییز اتصال لپاره خپلې هیلې پوره کړي. په دې اړه هیوادونو ته باید د دې اطمینان او ډاډ ورکړل شي، چې افغانستان د سوداګرۍ او ټرانزیټ یو خوندي مرکز دی او دوی کولی شي، چې په بشپړ ډاډ سره دلته پانګونه وکړي.

۲. برسېره پر دې، د زیربناوو کمښت یو لوی خنډ دی او په مالي او بانکي ادارو کې لویو اصلاحاتو ته اړتیا ده - لکه خوندي او وړ معیاري لیږدونه او د پانګوالو لپاره د دوستانه چاپیریال زمینه برابرول.

۳. بله ننګونه د افغانستان د کورني اقتصاد او صادراتو سکتور کې د ودې نشتوالی دی. د افغانستان اقتصاد په لویه کچه مصرف کونکی دی. په دې توګه، که چیرې دا هیواد له سیمه ایزو پروژو سره ځان په چټکۍ سره وصل کړي، نو د خپل محلي اقتصاد له ودې سره موافقت کوي، ځکه چې دا به د پیاوړیو اقتصادونو؛ لکه: چین، ایران، هند او پاکستان سره پر سیالۍ کې مخ شي، چې اوس مهال زموږ کورني صنعت دا سیالی نه شي کولی.

په پای کې خبره خلاصه کوم؛ دسیمه ییز اتصال لپاره نه سترې کیدونکو هلو ځلو ته اړتیا ده، ملي احساس او ګډ کار ته اړتیا ده او ددې تر څنګ په کور دننه پراخه زیربناوې او په بهر کې پیاوړې ډیپلوماسي کولای شي، چې افغانستان د سیمې د اتصال پر مرکز بدل کړي.

په یاد مو وي! که مو د ټولنیز عدالت لپاره مبارزه پیل کړه، ځانونه مو له قانون څخه ښکته کړل، له کور څخه بهر هر ټولنیز او دولتي جوړښت مو خپل وګاڼه، واک مو امتیاز، غنیمت او شخصي ملکیت نه، بلکې د ولس امانت وګاڼه، د نړولو پرځای مو د سمولو فکر خپل کړ، د ټولنیزو ښېګڼو لپاره مو ملا وتړله؛ نو ډېر ژر به د یو اباد او سوکاله افغانستان شاهدان واوسو.

اوس د دې وخت رارسیدلی، چې ټول په ګډه د هېوادوالو خدمت په ورین تندي، لوړ عزم او پوره حوصله تر سره کړو.

د اسلامي نظام د بقاء په هیله




+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# اهمیت پروژه تاپـــی

عبدالبصیر (معروف)



مسیر خط پروژه تاپی

پروژهٔ تاپی (TAPI) که مخفف ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند است، عبارت از پروژهٔ است که گاز را از ترکمنستان به افغانستان، پاکستان و هند انتقال میدهد. با عملی شدن این پروژه، افغانستان به دهلیز اقتصادی آسیای مرکزی و جنوبی مبدل خواهد شد.

لولهٔ پروژهٔ یادشده با قطر ۵۶ انچ و طول ۱۸۱۴ کیلومتر از جنوب ترکمنستان آغاز و نزدیک به ۷۳۰ کیلومتر آن از هرات، فراه، نیمروز، هلمند و قندهار گذشته و با عبور از کویته و ملتان پاکستان سر انجام به فازیلکای هند میرسد.

هدف اساسی این پروژه انتقال ۳۳ ملیارد متر مکعب گاز از ترکمنستان به افغانستان، پاکستان و هند است که هزینهٔ مجموعی آن تا ۱۰ ملیارد دالر تخمین زده شده است.

قابل یادآوری است که این پروژه نه تنها برای افغانستان اهمیت اقتصادی دارد، بلکه تأثیر عمیقی روی سیاست های منطقه در مورد افغانستان دارد و آنها را وامی دارد تا سیاستی روشن و واضح در قبال افغانستان اتخاذ کنند، روابط خویش با حکومت موجود را تقویت کنند و همچنان در امنیت وثبات دایمی کشور نقشی سازنده ایفا کنند.

درین زمینه، از زمانیکه امارت اسلامی حاکمیت کامل کشور را بدست گرفته است و امنیت و ثبات سرتاسری در کشور تأمین شده است، خواهان ایجادر روابط خوب، احترام و منافع متقابل با کشورهای همسایه، منطقه و جهان شده است و به همه کشورهای جهان از امنیت کامل و ثبات اطمینان داده است و وعده سپرده است که از خاک افغانستان علیه هیچ کشوری استفاده نخواهد شد.

خوشبختانه، در نتیجهٔ تلاش های مستمر امارت اسلامی افغانستان، به ویژه وزارت امور خارجه و معاونیت اقتصادی ریاست الوزرا، کشور ترکمنستان اعلام آمادگی کرده که کار

عملی پروژۀ تاپی را در آیندۀ نزدیک با سرمایه گذاری ٦٠٠ ملیون دالر آغاز خواهد کرد. درین زمینه، بانک بین المللی اسلامی، بانک انکشاف آسیایی و همچنان بانک های روسیه و چین و شماری از بانک های کشورهای عربی نیز برای سرمایه-گذاری ابراز علاقمندی نموده اند.

قابل یادآوری است که مقامات امارت اسلامی در سفرشان به ترکمنستان از مسوولین پروژۀ تاپی خواهان پلان عملی و تقسیم اوقات آغاز این پروژه شده اند. ذبیح الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی به تاریخ ١٨ میزان سال روان به رادیو آزادی گفت: "کار روی این پروژه به زودی آغاز خواهد شد؛ این پروژه برای افغانستان، ترکمنستان، پاکستان و هند به منظور انتقال گاز و سایر پیشرفت ها بسا مهم و حیاتی است، لذا، امارت اسلامی افغانستان به عنوان (حکومتی) مسوول درین بخش همکاری میکند و برای برآورده ساختن مسوولیت های خویش تلاش میکند تا این پروژه به زودی تکمیل شود."

در عین حال، امارت اسلامی افغانستان وضعیت فعلی را فرصتی خوب برای عملی شدن پروژۀ تاپی میداند و آمادگی کامل برای آغاز آن دارد و متعهد است که درین بخش از هیچ نوع کمک و همکاری دریغ نکند.

یک بار دیگر از سرمایه گذارن خارجی و داخلی میخواهد که بیایند و از فرصت موجود استفاده بهینه ببرید و در افغانستان سرمایه گذاری کنند. امارت اسلامی برای آنها در قسمت سرمایه گذاری از هر نوع کمک و همکاری اطمینان می دهد و آنرا وجیبۀ خویش میداند.

## د اسلامي امارت بهرنۍ سیاست، لاسته راوړنې، کورني او بهرني موضوعات

مولوي امیر خان (متقي) د بهرنیو چارو وزیر

خپرونه: مسیر

کوربه: شاپور بختیار

بختیار: په تېر یو کال کې مو په بهرني سیاست کې لاسته راوړنې څه وې؟

متقي: بسم الله الرحمن الرحيم...

لاسته راړونې ډېرې لرو؛ په دې معنی چې موږ توانېدلي یو، چې د خپلو اړیکو ساحه پراخه کړو او په دې وتوانېدو، چې په ډېرو هېوادونو کې خپلو سفارتونو ته لاس رسی پیدا کړو او هغوی ته نوي ډیپلوماټان ولېږو او همدارنګه تجارت ته مو هم له ډېرو هېوادونو سره زمینه برابره کړې او په دې برخه کې مو اړوندو ارګانونو ته اسانتیاوې برابرې کړې او اړیکې ښې شوې دي.

په نورو هغو برخو کې هم، چې زمونږ حکومت او ادارې ورته اړتیا لري،له کومې ستونزې سره، نه یو مخ شوي.

بختیار: یوه پوښتنه چې شاید د ډېرو کتونکو په ذهن کې وي، هغه دا چې تر اوسه د نړۍ یو هېواد هم اسلامي امارت په رسمیت نه دی پېژندلی، دلیل او خنډ یې څه بولۍ؟

متقي: ما مخکې هم څو ځله یادونه کړې ، چې یو عملي رسمیت دی او بل تش په نامه رسمیت، عملاً زموږ ټولې چارې په رسمي بڼه مخکې روانې دي. د بېلګې په توګه: د ډېرو هېوادونو سفارتونه دلته په کابل کې خلاص دي او زموږ سفارتونه هم هلته خلاص دي، له یو بل سره راشه درشه لرو، وفدونه او ډیپلوماټان مو تګ راتګ کوي، یعنې داسې څه شتون نه لري، چې کېدل یې د رسمیاتو د نه شتون له امله د خنډ سره مخ شي.

دا چې ولې د رسمیت په برخه عملي اقدامات نه کیږي، لامل یې دا دی چې نړۍ اوس د یو کور په څېر ګرځېدلې او موږ سره نژدې شل کاله جنګېدلې؛ نو طبعا یو څه وخت ته اړتیا لري او په تدریج سره به دغه اقدامات صورت ونیسي زه هیله مند یم،کومه لړۍ؛ چې اوس روانه ده او تاسې یې ګورئ، چې په ډېرو هېوادونو کې موږ ته سفارتونه او قونسلګرۍ سپارل کیږي، پاسپورتونه چاپ شول او راورسېدل او اوس یې وېش شروع دی، همدارنګه نوي بانکنوټونه هېواد ته راغلل او نور به هم راشي، زموږ وفدونه نورو هېوادونو ته ولاړل او د هغوی وفدونه زموږ هېواد ته راغلل او لا هم راروان دي، یعنې په ټوله کې دا هغه پرمختګونه دي، چې ددې پر بنسټ به نړۍ آخر هم حقایق درک کړي او بلاخره ډیپلوماټیکي اړیکي به نارمل حالت ته راوګرځي.

بختیار: څه فکر کوئ چې اسلامي امارت د رسمیت پړاو ته نږدې شوی؟ او ستاسې په آند ایا اسلامي هېوادونه به په دغه برخه کې لومړی ګام پورته کړي؟

متقي: تاسې ته معلومه ده، چې نړۍ اوس څو قطبي ده؛ نو زما په اند هغه هېوادونه چې د یو بل سره نږدې دي، کېدای شي، چې دوی په یو ځل دغه اقدام وکړي.

بختیار: تېره ورځ د عربي اماراتو یو لوړ پوړی پلاوی، چې علماوو هم په کې شتون درلود، کابل ته راغی او له تاسې سره یې لېدنه درلوده، د هغوی غوښتنې له تاسې څخه او ستاسې غوښتنې له هغوی څخه څه وې؟

متقي: دوی په سر کې دا وویل: چې کاشکې د نورو هېوادونو استازي هم دلته راشي؛ ترڅو دلته دغه شته امن، سکون،روزګار او د خلکو ګڼه ګوڼه په خپلو سترګو وګوري.

په ټوله کې د دوی لویه موخه دا وه، چې د متحده عربي اماراتو اړیکې له اسلامي امارت سره ښې شي، راشه درشه زیاته شي او په ضمن کې یې دا خبره هم وکړه، چې دوی چمتو دي، چې له افغانستان سره په تعلیمي برخه کې هر ډول مرسته او همکاري وکړي. تر ډېره بریده، ماته د دوی سفر د اړیکو د پراختیا لپاره یو ښه پیل ښکاره شو.

بختیار: له خبرونو مې واورېدل، چې په دوبۍ کې د سفارت چارې اسلامي امارت ته وسپارل شوې، غواړم پوښتنه وکړم، چې تر اوسه څومره هېوادونو ورته چارې اسلامي امارت ته سپارلې؟

متقي: په دې برخه کې موږ هېوادونه په دوو برخو ویشلی شو، ځینې هغه هېوادنه دي، لکه: ایران، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، چین، روسیه، ترکیه، قطر، سعودي عربستان، مالیزیا او داسې نورو هېوادونو ته مو نوي ډیپلوماټان لیږلي. اما په ځینو هېوادونو کې لکه: اندونیزیا او مصر کې پخواني ډیپلوماټان دي، چې د امارت اطاعت کوي او هڅه کوو، چې په دې برخه کې لا ښه پرمختګ وشي.

بختیار: د امریکا ځینو رسنیو ویلي، چې په راتلوونکو شپږو میاشتو کې به، په افغانستان کې داعش دومره پیاوړی شي، چې له هغه ځایه به بیا امریکا ته ګواښ وي، رښتیا هم داسې څه شته او که یوازې تبلیغات یې ګڼئ؟

متقي: که ستاسې په یاد وي، دوی دا خبرې یونیم کال د مخه هم کولې او هغه وخت یې هم د شپږ میاشتو یادونه کوله، خو لا تر اوسه داسې څه پېښ نه شول او د داعش حملې د پخوا په پرتله کمې شوې او وضیعت هم په ښه توګه کنټرول شوی، ترڅو چې په داخل کې چې د مقاومت کومې نارې پورته کېدې، هغه هم خاموشې شوې او وضیعت فوق العاده کنټرول دی.

البته دوی دا اوازې له دوو وجو خپروي، یا دا چې فشارونه وارد کړي او یا هم د اقتصاد د بهبود او بودیجې د لاس ته راوړلو لپاره حکومتونو ته فریب ورکړي.

خو حقیقت دادی، چې دلته وضیعت د پخوا په پرتله ډېر ښه دی، نه له ګاونډیانو سره په پوله کومه پېښه شوې او نه هم په داخل د ۳۴ ولایتونو او شاوخوا ۴۰۰ ولسوالیو کې کومه پېښه شوې او داسې کومه دره او کلی هم نشته، چې هلته د مخالفینو یا داعش تسلط وي؛ نو پر همدې اساس د دوی دغه خبرې کاملاً بې اساسه دي اوهیڅ حقیقت نه لري.

بختیار: تاسې د امنیت یادونه وکړه، ایا دغه کوچني بریدونه د داعش شتون نه ښایي؟

متقي: دلته د ډاډګیرنې خبره داده، چې په دې بریدونو کې افغانان نه، بلکې ډېری بهرنیان ښکېل دي، په دې معنی چې ولس له خپل نظام څخه کلک ملاتړ کوي. تاسې ولیدل، چې په حکمتیارصاحب، چینایانو، د بهرنیو چارو وزارت مخ ته او همدارنګه په هرات کې چې کومې حملې وشوې، په دې ټولو کې د تاجکستان اتباع ښکېل وو؛ نو دا یو څرګند ثبوت شو، چې خپله په افغانستان کې داعش نشته او کومې پېښې چې د داعش په نامه ترسره کیږي، له بهر څخه راواردېږي. دا د دې خبرې زیری ورکوي، چې افغانان په خپلو کې سره متحد دي او د خپل نظام ملاتړي دي او که کومه یوه پېښه صورت نیسي، نو ورته پېښې؛ خو د نړۍ په هغو هېوادونو کې هم صورت نیسي، چې له کلونو راهیسې جوړ پاتې دي.

اما بیا هم کوښښ کوو او له خدایه غواړو، چې دغه پېښې صفر ته راټیټې شي.

بختیار: تاسې دې ته اشاره وکړه، کوم بریدونه چې دلته شوي دي، کوونکي یې خارجي اتباع او په ځانګړې توګه تاجکستانیان وو، ایا د دوی مرکزونه له پخوا څخه دلته وو او که تازه راواردېږي او دوی ولې دلته ورته بریدونه تر سره کوي، که موخه یې اسلامي نظام وي؛ نو د تاجکستان او نورې نړۍ په پرتله خو دلته سل وارې شرعي نظام دی؟

متقي: که تاسې زیر شئ؛ ښه چې لکه هم حاکم د اسلامي امارت مجاهدین د مخالفینو او بریدګرو په مقابل کې عملیات ترسره کوي؛ نو ډېری یې په هغو سیمو کې دي، چې د فتحې پر مهال ورځې د اسلامي امارت تر ولکې لاندې راغلې، په دې معنی چې دغه ځالې ټولې په هغو ځایونو کې دي، چې د تېر رژیم تر کنټرول لاندې وې.تاسې په جریان کې یاست، کله چې په جوزجان او ننګرهار کې پر دغو خلکو د امارت له خوا کړۍ تنګه شوه؛ نو د تېر رژیم له لوري په چورلکو کې خوندي ځایونو ته نقل شولې یعني ویلی شو، چې ځالې یې له پخوا څخه دلته پاتې وې او دا چې له بهر څخه راځي او یا فعالیت کوي، طبعاً نړۍ د پراخوالي ترڅنګ اوس د ټکنالوجۍ درلودونکې هم ده، چې له دې څخه هم استفاده کېدلای شي، چې ناست یو ځای کې او لارښوونې او فعالیت په بل ځای کې ترسره کړي، خو الحمدلله؛ په افغان ولس کې دوی هیڅ ډول رېښې نه لري.

بختیار: که څه هم تاسې او د اسلامي امارت ډېری مشرانو په کراتو دغه خبره کړې ده، چې د افغانستان خاوره به د هیڅ کوم هېواد پر خلاف نه استعمالیږي؛ خو بیا هم ځینې هېوادونه اندېښنه لري، د دوی اندېښنه له کومې زاویې څخه ده او ولې؟

متقي: زه فکر کوم، چې اکثره هغه څوک دا خبره کوي، چې له حقائقو ناخبره وي او یوازې په میډیا کې پر څو مغرضو رسنیو تکیه کوي او یا دوی هسې غرضي خبرې کوي، کنه تر اوسه هیڅا ته کوم تهدیدنه دی متوجه شوی، یوازې پر ازبکستان یو څو زړې توغندي شاټ شول، چې هغه هم هدف ته ونه رسېدل او عاملین یې په اونۍ کې دننه څه مړه او پاتې ونیول شو. همدارنګه سرحداتو کې کومه داسې پېښه نه ده شوې، چې د حساب وړ وي؛ بلکې سرحدات د پخوا په پرتله ډېر خوندي او امنیت په مراتبو ښه شوی دی؛ نو ځکه دغه خبرې د ناخبرۍ له امله دي او یا هم غرضي بڼه لري.

بختیار: ځینې امریکایي چارواکو(که څه هم تاسې ورته اشاره وکړه، چې د دوی اکثره خبرې د پیسو د جذب لپاره دي) په افغانستان کې د شپاړسو او شلو تروریستي ډلو دعوه کړې؛ ایا دا خبره سمه ده؟

متقي: دوی دې د شپاړسو او شلو پر ځای یوه ډله او د هغوی مرکز او دفتر وښايي، البته که په غلچکي توګه کوم فرد راغلی وي، هغه هم نیول شوی او وژل شوی.نو چې نه فرد او نه یې کوم دفتر شتون لري؛ نو بیا هم هغه خبره ده، چې دوی یا بې خبره دي او یا هم غرضي خبرې کوي.

بختیار: د ملګرو ملتونو استازي افغانستان ته راځي، لیدنې کوي او بېرته ځي، مګر بیا هم په ملګرو ملتونو کې د افغانستان چوکۍ اسلامي امارت ته نه سپارل کیږي، ولې؟

متقي: زما په اند دوی دغه څوکۍ په اسلامي امارت د فشار واردولو لپاره په لاس کې نیولې ده، نور کوم اصولي دلیل نه لري، حتی اخلاقي دلیل هم نه لري. سره له دې چې اسلامي امارت د افغانستان په ټوله اراضي تسلط لري،خو ایا دوی چې اوس چاته سپارلې هغه د افغانستان په یوه لویشت ځمکه تسلط لري او یا د کوم حکومت او ولس استازیتوب کوي؟!

نو دا کوم انصاف دی، چې یو څوک د یو هېواد د شته نظام مخالف وي او د هیچا استازیتوب هم نه کوي او ته د هغه هېواد او ولس چوکۍ هغوی ته سپارې؟!

په تېر کې خو بیا هم داسې و، چې د هېواد په یوه برخه کې به یو څوک مسلط و او په بله برخه کې به بل څوک و، مګر اوس خو دوی دلته هیڅ هم نه لري. په هر صورت؛ دا د افغانستان د خلکو حق دی، چې ورڅخه غصب شوی د.

بختیار: د یو کال لپاره بیا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو استازولی یا یوناما ؛خپل کاري بهیر وغځاوه، تاسې خوشحاله یاست؟

متقي: موږ خو له ملګرو ملتونو سره نږدې اړیکې درلودلي دي او غواړو یې؛ نو دغه هم یو مثبت ګام دی، چې دوی دلته حضور ولري او د اړتیا په صورت کې ناستې ولاړې سره ولرو، ترڅو د دوی پیغام تر موږ او زموږ پیغام تر دوی ورسیږي.

بختیار: وخت ناوخته په ډېری هېوادونو کې د افغانستان په تړاو غونډې جوړیږي،خو متأسفانه د افغانستان په استازیتوب هغه څوک وربلل کیږي، چې د نورو هېوادونو تابیعت لري، حتی بچیان یې په ملي ژبو نه پوهیږي او خپله د افغانستان له اراضي سره بلد نه دي  او وايي: چې اوسنی نظام د مرکزي حکومت د اداره کولو توان نه لري او په افغانستان کې دې تروریستي ډلې تر څار لاندې ونیول شي. ولې د اسلامي امارت او د افغانانو رښتني استازي نه وربلل کیږي؛ تر څو حقائق ووايي؟

متقي: د دې پوښتنې یو څه ځواب خپله ستا په پوښتنه کې نغښتی دی او هغه دا چې، هغه څوک وربلل کیږي، چې هغوی له افغانستان سره تړاو نلري او ورسره نابلده دي، دا په دې معنی ده؛ چې دوی سره هغه څوک نشته، چې هغوی په افغانستان اثر ولري، په افغانستان خفه شي او په دې خاوره ودردېږي.

بلکې هغه څوک ورسره دي، چې د دوی لخوا روزل شوي او دوی له خوا تمویلیږي او د فشار په توګه ورڅخه استفاده کوي. الحمدلله؛ داسې څوک ورسره نشته، چې په افغانستان کې دننه کوم اثر او رسوخ ولري؛ ځکه اوس افغانان په دې پوهېږي، چې د اوسنیو ستونزو د هواري لاره یوازې همدا نظام دی.

نه پوهېږم دوی د نظام اداره کول څه ته وايي؟ ایا هغه نظام چې په میراث کې یې جادې له پوډریانو او کوڅې له سوالګرو ډکې پرېښودې؟! بانکونه یې تش راپرېښودل او حتی د ګاونډیانو د برېښنا بېلونه یې راپرېښودل.

دوی داسې کومه بېلګه موږ ته لري؟ د ښې اردو مثال لري، د ښه پولیسو مثال لري، د ښو استخباراتو مثال لري او که د ښه اقتصاد مثال لري؟!

بلکې ۷۰ سلنه بودجه یې له بهره وه، حال دا چې اوس ټوله بودجه له داخله پوره کېږي. ایا په تېرو شل کلونو کې د قوشتېپې کانال په څېر لویه پروژه پیل شوې؟ ایا په ټولو ولایتونو کې د ښاروالۍ له خوا داسې همزمانه کارونه شروع شوي وو؟ ایا داسې سرتاسري امن و؟!

ایا اوس د شفافیت نړیوالې ادارې په دې اعتراف ونه کړ، چې افغانستان د فساد د مخنیوي په برخه کې ۲۴ گامه وړاندې تللی، همدارنگه نړیوال بانک په دې اعتراف ونکړ، چې د افغانستان بانکي سیستم او اقتصاد په ښه لوري روان دی؟!

حال دا چې دا هغه ادارې دي، چې د دوی تر شا ولاړې دي، اما بیا هم مجبوراً دغه اعتراف کوي، چې په افغانستان کې امنیت دی، فساد هم په بې سارې توگه کم شوی او اقتصاد هم په ښه لوري روان دی؛ نو بیا دوی ښه حکومتولي څه ته وايي؟!

بختیار: ښاغلی وزیر! تاسې فشارونو ته اشاره وکړه، له دغو فشارونو دوی څه غواړي او تر شا یې څه دي؟

متقي: متاسفأنه؛ چې تېر نظام چې دوی ټول شموله بولي، په دې معنی و، چې یو وزیر د یو هېواد او بل د بل هېواد په خوښه راشي او د هغوی فرمایشونه دلته عملي شي، اوس چې هغه فرمایشونه نه عملي کیږي او د هغوی د گټو پرځای افغاني گټو او ارزښتونو ته ترجیح ورکول کیږي او اوسنی نظام په دغو فرمایشونو ورسره مخته نه ځي؛ نو طبعاً دوی اوس د خپلو موخو لپاره فشارونه واردوي.

بله دا چې، هغه چاسره چې شل کاله جنگ شوی وي، نو له هغوی څخه دستي د گلونو ورولو طمع نه شي کېدای، اما امید لرم، چې په تدریج سره به دغه هر څه سم شي.

بختیار: افغانستان په تېرو وختونو کې د دوو زبرځواکونو په یو طرف کې واقع شوی او یا یې بې طرفه سیاست خپل کړی؛ خو د اوکراین په جگړې سره اوس نړۍ ظاهراً په دوو برخو وېشل شوې، د اسلامي امارت بهرنی سیاست اوس څه ډول دی؟

متقي: موږ بار بار داخبره کړې، چې د افغانستان اوسنی سیاست یو متوازن سیاست دی، متوازن په دې معنی؛ چې افغانستان به نور د لویو قدرتونو تر منځ د رقابت او جگړو مرکز نه وي؛ بلکې موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې غواړو، موږ غواړو چې افغانستان د سیمې د هېوادونو تر منځ د اقتصادي اتصال پر مرکز بدل شي او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو زمینه شي؛ ځکه افغانستان د اسیا زړه بلل کیږي او کولای شي، چې مرکزي اسیا او جنوبي اسیا سره ونښلوي او د مرکزي اسیا تېل، گاز، برېښنا او ټکنالوجي چې جنوبي اسیا ورته اړتیا لري، له دې لارې ور ورسیږي.

بختیار: په ورستیو کې ډیر خبرونه د افغان بندیانو په تړاو لرو، چې ډېری یې د ایران او پاکستان له زندانونو څخه ازاد یا تبادله شول او هېواد ته راستانه شول، ایا ورته هڅې به له نورو هېوادونو سره، چې هلته هم افغانان بندیان دي، دوام پیدا کړي؟

متقي: تبادله خو نه ده شوې، البته زموږ یو هیئت ایران ته تللی ؤ او هلته پرېکړه شوې وه، چې تر ۲۰۰۰ پورې بندیان به افغانستان ته سپارل کیږي، چې تر اوسه تر ۸۰۰ پورې سپارل شوي او پاتې نور به هم په نږدې ورځو کې راورسیږي.

همدارنگه تاسې په جریان کې یاست، چې زیات شمېر افغانان په پاکستان کې هم بندیان وو، چې زموږ پرله پسې هڅو په پایله کې ازاد شول او هغوی ته مو د لارې کرایه، خوراکي توکي او البسه ورکړه او خپل هېواد ته راستانه شول. حتی ناروغانو ته مو د علاج اسانتیاوې برابرې کړې او هغه درې یا څلور تنه بندیان چې هلته وفات شوي وو، د هغوی جسدونه مو هېواد ته رانقل کړل او پاتې لږ شمېر، لا هم هلته بندیان دي، د هغوی په تړاو مو د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر سره اړیکه نیولې، تر څو هغوی هم په نږدې ورځو کې ازاد او هېواد ته راستانه شي.همدارنگه په سعودي عربستان هېواد کې، چې کوم افغان بندیان زموږ په هڅو را ازاد شول، د هغوی لپاره مو له اریانا افغان هوایي شرکت سره خبره وکړه،

چې پایله کې یې تر ۴۰۰ پورې افغانان هېواد ته راستانه شول.

همدارنګه؛ ورمه ورځ، چې د متحده اماراتو د علماوو کوم وفد دلته راغلی ؤ، له هغوی څخه مې هم غوښتنه وکړه، چې هلته د افغان بندیانو په خلاصون کې مرسته وکړي؛ ترڅو د رمضان او اختر په پار راخلاص او له خپلو کورنیو سره یوځای شي. ورته هڅې په نورو هېوادو کې هم دوام لري.

همدرانګه؛ چېرته چې د افغانانو نور مشکل وي، هغوی ته مو هم تر خپله وسه رسیدګي کړې، چې په دې لړ کې لوی مشکل د پاسپورتونو و، چې الحمدلله اوس مو په قطر کې هم شروع کړي دي او سعودي ته خو مو تر ۱۸۰۰۰ پورې لېږلي دي، چې په ورځنۍ توګه اجراء کیږي او تر دې دمه تر لسو زرو څخه زیات اجراء شوي دي.

په مسکو کې هم شروع شول، اوس به متحده اماراتو کې هم شروع شي او دغه شان، په هر ځای کې چې اړتیا لیدل کیږي، هلته به دغه ساحه نوره هم پراخه شي.ان شاء الله

بختیار: یوه مسئله، چې هغه هېواد ته د پخوانیو سیاسیونو راستنولو کمیسیون دی او تاسې خپله هم په دغه کمیسیون کې دخیل یاست، ایا دغه لړۍ لاهم دوام لري؟

متقي: په یاد کمیسیون کې چې تر شپږو پورې وزیران هم شتون لري، د دوی هڅې د ستایلو دي، دوی وکولای شول، چې افغانانو ته دا روښانه پیغام ورکړي، چې دوی هر وخت وغواړي؛ نو خپل هېواد ته راتلای شي او څوک چې راغلي، د هغوی سر، مال او عزت خوندي شوی او محفوظ دي او دغه دروازه لاهم خلاصه ده او خلک راروان دي. دې کمېسیون دا وښوده، چې له تېرو ۴۵ کلنو راهیسې لومړی ځل دی، چې افغانستان د افغانانو شو او هر افغان چې راځي، خپل کور یې دی او هر وخت راتلای شي. او بلاخره به دوی ته د دوی د استعدادونو او وړتیاوو په نظر کې نیولو سره د کار زمینه هم برابره شي.

بختیار: د ورستۍ پوښتنې په توګه؛ یو شمېر پخواني چارواکي په بهرنیو هېوادونو کې راټولیږي او د افغانستان په تړاو مختلف بیانونه ورکوي، څه فکر کوئ، چې د دوی تر شا بیا هم څوک شته او غواړي دوی مصروف کړي او که د خپل تنګ زړه خواله سره کوي؟

متقي: یو متل دی، وایي: "غل ځغلوه؛ خو نه تر کوره" زه وایم دومره ازادي خو دې ورکړل شي، چې د زړه بړاس خو وباسي، سوکه، سوکه به بیا راشي او په کابل کې به سره کېني او خپل کور او کلي ته به راشي.

موږ چې څومره معلومات لرو، زموږ له مخالفینو سره نور څوک نظامي مرسته نه کوي؛ ځکه دوی اوس دې ته قانع شوي، چې نور دوی په افغانستان کې جګړه نه غواړي او دا یو ښه پرمختګ دی او دا چې دوی اوس هم ناستې ولاړې کوي؛ نو کله یې په خپل سر کوي او کله یې بیا نور څوک هڅوي او د فشار په توګه ورڅخه استفاده کوي.

بختیار: د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی امیر خان متقي، ډېره مننه؛ چې زموږ بلنه مو ومنله او زموږ پوښتنو ته مو ځوابونه ورکړل.

د بهرنیو چارو وزارت:

# بهرنیو ژورنالستانو ته د راتګ او راپور جوړونې لپاره اسانتیاوې برابرې شوې

تبصره: ناصر شاه (سرحدي)

د بیان او مطبوعاتو آزادي نه یوازې د نړیوالو کنوانسینونو یو فصل جوړوي؛ بلکې د خوراک او پوښاک ترڅنګ، د انساني غریزې یوه برخه هم ده. ځکه انسان د پیدایښت د زمانې له لومړنیو غریزو څخه یوه هم دبیان ازادي ده، چې خداي جل جلا له انسان ته ور کړې ده.

د خوراک او پوښاک تر څنګ، د لومړنیو انساني غریزو یوه مهمه غریزه او غوښتنه دا وه، چې له یو چا څخه وپوښتي څه دې ولیدل؟ څه دې واوریدل؟ نو د همدې نړیوالو بشري حقونو په رڼا کې د افغانستان اسلامي امارت هم د بیان او مطبوعاتو آزادۍ ته په درناوي سره ښه ګټلې، چې د هیواد خبریالانو او ژورنالستانو ته د رپوټ جوړونې په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړې؛ تر څو وکولای شي، خپلې پوښتنې په ازادانه توګه له چارواکو سره مطرح کړي.

د افغانستان اسلامي امارت داسلامي ارزښتونو اوشرعي احکامو په رڼا کې؛ د نړۍ ژورنالستانو او خبریالانو ته دا اجازه ورکړې، چې د افغاني ټولنې په ټولو سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي برخو کې خپلې پوښتنې مطرح کړي او هغوی ته یې، د قناعت ورکولو ترڅنګ هر ډول اسانتیاوې برابرې کړې.

اوکولای شي د افغاني ټولنې د ژوندانه په سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي برخو کې، خپل فکر او نظر په ازادانه توګه څرګند کړي.

دلته زموږ اصلي خبره د ژورنالستانو او خبریالانو لپاره د تګ راتګ او راپور جوړونې په اسانتیاو را څرخي او هغه دا ده؛ چې د افغانستان اسلامي امارت د ژورنالېزم مسلک هغو کارکوونکو ته چې په غږیزو، تصویري او یا چاپي رسنیو کې کار کوي او نړیوالو اصولو ته په پوره معنی ژمن او متعهد دي، د اسانتیاوو برابرولو په برخه کې ژمن دی.

او دا هغه څه دي، چې د افغانستان اسلامي امارت دبهرنیو چارو وزارت هم ویلي:

(( په هیواد کې له ۲۷۰ څخه د زیاتو داخلي رسنیو او ۱۴ بهرنیو رسنیزو شبکو، د موجودیت ترڅنګ، د ۱۴۰۱ ه ش کال له پیله تر اوسه (د همدې کال تر لړم میاشتې پورې)،له ۷۰۰ څخه زیاتو بهرنیو ژورنالستانو او خبریالانو ته د تګ راتګ او راپور جوړونې لپاره اسانتیاوې برابرې شوې او پر وړاندې یې، هیڅ کومه ستونزه، خنډ او بندیز نشته)).

نو نړیوالو رسنیو ته؛ که هغه غږیزې وي، که تصویري او یا چاپي وي پکار د، چې د خپل ژورنالستیک او فرهنګي رسالت له مخې او د بیان د ازادۍ او د مطبوعاتو د نړیوالو کنواسینونونو په رڼا کې خپل خبرونه او راپورونه خپلو رسنیو او مطبوعاتو ته وړاندې کړي او له افغانستان د حالاتو څخه دې نړیوالو ته یو مثبت تصویر وړاندې کړي.

اوس ټول نړیوال او هیواد وال پوهیږي، چې دافغانستان اسلامي امارت د افغانستان د مسلمانو خلکو په ملاتړ او حمایت په ټولې خاورې او قلمرو حاکم دی، جنګ او جګړې پای ته رسیدلې او سوله او ثبات د هېواد په ټوله خاوره او قلمرو کې تامین دی؛ نو رسنۍ هم باید په دې سترګې پټې نه کړي او دغه هر څه په سمه توګه انځور او نړۍ ته یې وړاندې کړي.



+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي ژوند ليک




مولوي اميرخان متقي د مرحوم حاجي نادرخان زوی او په ۱۳۴۹ هجري لمريز (۱۹۷۰م) کال د کب مياشتې په اوومه نېټه د هلمند ولايت د نادعلي ولسوالۍ په زرغون کلي کې زېږېدلی. د ښاغلي متقي کورنۍ په اصل کې د پکتيا ولايت اوسيدونکې ده، چې وروسته هلمند ته کوچېدلې دي.

مولوي اميرخان متقي خپلې لومړنۍ زده کړې د خپلې سيمې په ښوونځي او مسجد کې پيل کړې. د کمونستانو له کودتا او د شوروي له يرغل وروسته اړ شو چې په نهه کلنۍ کې له خپلې کورنۍ سره پاکستان ته هجرت وکړي. د هجرت په ماحول کې يې ديني زده کړو ته مخه کړه.

د افغان مهاجرينو په مختلفو ديني مدارسو کې يې صرف، نحو، منطق، بيان، فقه، حديث، تفسير او نور مروج علوم ولوستل او د ديني علومو د فراغت دستار يې پر سر کړ.

ښاغلی متقي يو پېژندل شوی افغان سياستوال او د طالبانو د اسلامي غورځنګ د رهبرۍ له غړو څخه دی، چې د افغانستان په مهمو سياسي او اداري برخو کې د کار او فعاليت مخينه لري.

مولوي امير خان متقي د ۱۴۰۰ل کال د سنبلې له ۱۶مې (۲۰۲۱ م کال د سپتمبر ۷مې) نېټې راهيسې، وروسته له هغې چې کابل فتحه شو، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير په توګه دنده ترسره کوي.

نوموړی د کمونست رژيم په ورستيو کلونو کې، چې نوی ځواني ته ورسيد، په هلمند ولايت کې يې مسلح جهاد پيل کړ. کله چې د ډاکتر نجيب الله په مشرۍ کمونست رژيم ونړيد، ښاغلي متقي هم د يو شمير نورو مجاهدو طالبانو په څېر؛ د خپل نيمګړي تعليم پوره کولو ته مخه کړه.

په ۱۳۷۳ل (۱۹۹۴م) کال کې د طالبانو له لوري د کندهار ښار له نیول کېدو څه موده وروسته مولوي امیر خان متقي ته د طالبانو د عالي شورا د غړیتوب ترڅنګ د کندهار راډیو مسؤلیت هم ور و سپارل شو.
د ۱۳۷۴ لمریز (۱۹۹۵م) کال د سرطان په میاشت کې ښاغلی متقي د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د رئیس په حیث وټاکل شو.
د ۱۳۷۵ لمریز (۱۹۹٦م) کال میزان میاشت کې، چې کله پلازمېنه کابل د طالبانو له لوري فتحه شو، ښاغلی متقي په همدې میاشت کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د سرپرست وزیر په توګه وټاکل شو. نوموړي څو کاله د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په توګه د خدمت ترسره کولو تر څنګ، د امارت رسمي ویاندویي هم کوله او رسنیو ته یې د اسلامي امارت مواقف بیانول.
په ۱۳۷۸ل (۱۹۹۹م) کال مولوي امیر خان متقي د چارو اداري د لوی رئیس په حیث وټاکل شو او له څه مودې وظیفې ترسره کولو وروسته، د ۱۳۷۸ل (۲۰۰۰م) کال د حوت میاشت کې د ښوونې او روزنې د وزیر په حیث وټاکل شو، چې دا دنده یې پر افغانستان د امریکایي یرغل تر وخته سرته رسوله.
د رسمي اداري دندو تر څنګ، ښاغلي امیر خان متقي په ګڼو مواردو کې د افغانستان اسلامي امارت د مخکښ مرکچي په توګه هم دندې ترسره کړې. ښاغلي متقي د هغه پلاوي مشري هم پر غاړه درلوده، چې له پخوانۍ شمالي ټلوالې سره د خبرو لپاره د اسلامي امارت د مشر مرحوم ملا محمد عمر مجاهد له خوا ټاکل شوی و. د نوموړي تر مشرۍ لاندې یاد پلاوي له ټلوالې سره د ازبکستان په تاشکند کې د ٦ + ۲ هیوادونو په ګډون او بیا د ترکمنستان په پلازمینه عشق اباد او بیا د اسلامي کانفرانس په منځګړیتوب د سعودي عربستان په جده کې مذاکرات ترسره کړل.

د امریکایي یرغل پر وړاندې د مقاومت په پړاو کې مولوي امیر خان متقي ډېر کلونه د اسلامي امارت د فرهنګي کمیسیون مشر ؤ. نوموړي پر افغانستان د امریکایي یرغل پر خلاف ډېرې برېښنایي، چاپي او تصویري شبکې را منځته کړې او له دې لارې یې د یرغل په تړاو ناویل شوې ناخوالې تر نړیوالو ورسولې.
په ۲۰۱٦م کال د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه دفتر د رئیس په توګه وټاکل شو. دوه کاله یې د اسلامي امارت د مشرتابه دفتر ریاست چارې پر غاړه درلودې او ورسره له امریکایانو سره د مذاکراتو لپاره په ۱۲/۲/۲۰۱۹ م نېټه د مرکچي پلاوي غړی هم وټاکل شو.
ښاغلی متقي د مقاومت په وروستیو کلونو کې د ۲۰۲۱م کال د جنوري په ٦مه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د دعوت او ارشاد، جلب او جذب کمېسیون د رئیس په توګه وټاکل شو. د دغه کمېسیون له لارې د کابل پخوانۍ اداري له ډېرو غړو سره خبرې وشوې، چې په پایله کې یې د ۲۰۲۱م کال د اګسټ ۱۵مې تحول په عادي او سوله‌ییز ډول ترسره شو.




+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# بیوگرافی شیر محمد عباس ستانکزی معین سیاسی وزارت امور خارجه امارت اسلامی




محترم شیرمحمد عباس ستانکزی فرزند مرحوم حاجی پادشاه خان، در سال ۱۳۳۸ هجری شمسی در قریهٔ عباسِ ولسوالی برکی برک ولایت لوگر به دنیا آمده است .

تحصیلات ابتدایی خویش را در مسجد قریه و مکتب عمراخان کابل به پایان رسانیده و فارغِ مکتب حربی کابل می‌باشد.

وی توسط سردار محمد داود خان همراه با سایر دانشجویان افغان برای تحصیلات عالی نظامی به هند اعزام شد و پس از پایان تحصیلات در سال ۱۳۶۰ هجری شمسی به جبهه جهاد علیه اشغال شوروی پیوست.

او به عنوان استاد نظامی در احزاب جمعیت اسلامی و اتحاد اسلامی خدمت کرده و در سال ۱۳۶۴ آمر نظامی ناحیهٔ جنوب غربِ اتحاد اسلامی بود. او در عملیات‌های قلات، میدان هوایی قندهار، لشکرگاه و سایر عملیات‌های مهم شرکت فعال داشته و از آن زمان با ملا بورجان، ملا مشر، ملا محمد ربانی و سایر رهبران پیشین طالبان آشنایی داشته است.

در سال ۱۳۶۹ به عنوان مسئول عمومی نظامی حرکت انقلاب اسلامی منصوب شد و تا سقوط رژیم نجیب در این سِمت ایفای وظیفه نمود.

در طول جنگ‌های تنظیمی در خانه ماند و با خیزش تحریک طالبان، به آنان پیوست. او در زمان حکومت طالبان ابتدا به حیث معاون ارتباط خارجه قندهار و سپس در کابل به عنوان معین وزارت امور خارجه و سپس معین وزارت صحت عامه ایفای وظیفه نمود.

پس از حمله آمریکا به کشور، بار دیگر به مبارزه نظامی و سیاسی پرداخت؛ به عنوان یکی از اعضای کمیسیون سیاسی طالبان، سپس به عنوان معاون آن و از آگست ۲۰۱۵ تا جنوری ۲۰۱۹ به عنوان رئیس دفتر سیاسی طالبان ایفای وظیفه نمود.

آقای ستانکزی همزمان با عضویت در شورای رهبری، معاون دفتر سیاسی و معاون تیم مذاکره کننده، تیم مذاکره با آمریکایی‌ها را رهبری می‌کرد.

آقای ستانکزی در حال حاضر پس از پایان اشغال آمریکا، اکنون که امارت اسلامی کنترل کامل کشور را در اختیار دارد، به عنوان معین وزارت امور خارجه خدمت می‌کند.

# د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د اداري معین رحمت الحق فضیل ژوند لیک




ښاغلی مولوي رحمت الحق فضیل د نورالحق صاحب زاده زوی، په 1361 هـ ل کال د کندهار ولایت دامان ولسوالۍ د صاحب زاده د کلاچې په منطقه کې زیږېدلی دی.

ابتدایي زده کړې یې د جهادي تنظیمونو په مدارسو د سرخاب په کمپ کې پیل کړې او په بیلابیلو مدارسو کې یې سرته ورسولې. نوموړي په 2006زکال کې د کندهار په نوي ښار کې استوگنه درلوده، چې د ناټو د ځواکونو په واسطه ونیول شو او د نوموړي استوګنځای یې په بموو ویجاړ کړ او له مشر ورور سره یې یوځای په کندهار کې د CIA مرکز ته د (ملا صاحب د سرای)په نوم انتقال او بندیان کړل او تر هغې یې د زندان توري شپې سبا کولې؛ تر څو چې د اسلامي امارت مجاهدینو په زندان حمله وکړه او ازاد شو.

ښاغلي له فتحې مخکې د مقاومت په دوره کې په مختلفو پوستونو کار کړی د استخباراتو د کمیسیون د غړي د مفتش په توگه، د اسلامي امارت د اکاډمۍ د شرعیاتو د استاد په توگه، همدارنگه د امیر المؤمنین د فرمان په اساس د اسلامي امارت د اقتصادي کمیسیون د معاون په حیث، چې د هغې په اډانه کې گمرکات، برق او زراعت وو، مسؤلیت تر سره کړ.

ښاغلی فضیل په کندهار، فراه، غزني، لوگر، بادغیس، فاریاب، جوزجان او هلمند کې وکولی شول چې گمرکونه په ښه ډول مدیریت کړي او د سوداگرو او خلکو گمرکي ستونزې حل کړي.

کله چې د 1400 هـ ل کال په اوړي کې چټک بدلونونه پیښ شول او په 24 د اسد محمد اشرف غني له خپلو اطرافیانو سره هیواد پرېښود، نوموړی په کندهار کې د جنوب د گمرکاتو په مدیریت بوخت و. د سرپرستې کابینې او د مالیې وزارت د سرپرست په حیث د ملا هدایت الله بدري له معرفي کولو نه وروسته کابل ته راغی او د عوایدو په معینیت کې د افغانستان د گمرکاتو د رئیس په صفت مقرر شو او بیا څه موده وروسته د امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري د بهرنیو چارو وزارت د اداري معین په توگه وټاکل شو.

# انځوریزې ویناوې

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

"د هیواد امنیتي بنسټونه مو ورغول، تر سل زرو زیات ځوانان مو د ملي اردو او تر یو سل او اتیا زرو پورې مو د ملي پولیسو لیکو ته جذب کړل.
اوسنی چاپېریال امنیت د دغو متعهدو او متخصصو امنیتي مسؤولینو او ځواکونو د هڅو پایله ده."



مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

"په افغانستان کې د تیر کال د اګسټ د پنځلسمې سیاسي بدلون او د نوي حکومت له تشکیل وروسته یوولس میاشتې تیرېږي، په دې لنډه موده کې زموږ حکومت ډیرې ارزښتناکې لاسته‌راوړنې لرلې دي.
نوي حکومت وتوانېده چې په ډېره لنډه موده کې امنیت ټینګ کړي، امنیتي اداري فعاله کړي، د حکومت اساسي اداري او کارکوونکي حفظ کړي، ولس ته اساسي خدمتونه روان وساتي، ملي بودیجه له ګلونو وروسته په لومړي ځل له خپلو ملي عوایدو تأمین کړي، د اداري فساد کچه صفر ته راټیټه کړي او په نظام کې هدفمند همه شمولیت باوري کړي."



۱

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

"زموږ مشرتابه خپلو ټولو سیاسي او پوځي مخالفینو ته د عمومي بښنې په کولو د افغانستان د سیاسي تحولاتو په تاریخ کې د زغم او یو ځای منلو د فرهنګ بنسټ کېښود او د ځلورو لسیزو د قهر اخیستنې بدمرغه دود پای ته ورسید. نه یوازې عمومي بښنه وشوه، بلکې د نظام په منځنیو کچو او ان دوزارتونو تر مسیتونو او مهمو ریاستونو پورې د پخوانۍ نظام کارکوونکي کار کوي. موږ هیڅوک د سیاسي اختلافاتو له امله له دندې ګوښه کړی نه دی، او دا ټول ځلن د افغانستان د سیاسي تحولاتو په تاریخ کې لومړی ځل دی چې ترسره کیږي."



۲

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

"د هیواد امنیتي بنسټونه مو ورغول، تر سل زرو زیات ځوانان مو د ملي اردو او تر یو سل او اتیا زرو پورې مو د ملي پولیسو لیکو ته جذب کړل. اوسنی چاپېریال امنیت د دغو متعهدو او متخصصو امنیتي مسؤولینو او ځواکونو د هڅو پایله ده.
او د دې په خاطر چې زموږ په امنیتي لیکو کې داسې خوک ځای پیدا نه کړي چې زموږ داخلي او ګاونډیو او د نړۍ د هیوادونو امنیت ته ضرر ورسوي، موږ د خپلو ټولو امنیتي کسانو د بای میتریک سلسله هم شروع کړې چې کافي پرمختګ پکې شوی دی."



۳


+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انفوګرافیک














+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انځوريزې ويناوې

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

[illegible]



۸

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

" د امنیت د ورانوونکو پر وړاندې زموږ د نظام پالیسي روښانه ده او دا مو په تېر یوه کال کې په عمل کې ثابته کړې. زموږ امنیتي او دفاعي ځواکونه د داعش ډلې پرخلاف ښې لاسته‌راوړنې لري. په وروستیو میاشتو کې چې د افغانستان او ازبکستان پر پوله د امنیت د تخریب په موخه کومې ناکامه هڅې وشوې، زموږ امنیتي ځواکونو د پېښې د عاملینو پرخلاف عملیات وکړل، ځینې یې ووژل شول او ځینې ونیول شول. داعش او بلې هیڅ ډلې ته به اجازه ورنه کړو چې د افغانستان له خاورې څخه د بل هېواد پر ضد کار واخلي."



۹

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر

" موږ د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام او دوه اړخیزو مشروع ګټو په چوکاټ کې مثبت تعامل ته چمتو یو. او د نړۍ له هېوادونو هم غوښتنه لرو چې په دې برخه کې خپل مسؤولیت تر سره کړي.
د امریکا پر متحدو ایالتونو غږ کوو چې د افغانستان بانک ټولې شتمنۍ بې له قید او شرطه آزادې او پر افغانستان تعلیقي اقتصادي بندیزونه لرې کړي. دا د اړیکو د عادي کولو په پاره اساسي ګام دی. دا کار به د امریکا په اړه د افغانستان د خلکو په ذهنونو مثبت اثر وکړي.
همدارنګه د نړۍ پر نورو هېوادونو غږ کوو چې د افغانستان له اسلامي امارت سره د اوږدمهالو دوه اړخیزو مشروع ګټو د باوري کولو په پاره رسمي تعامل پیل کړي."



۱۰

مولوي امیر خان متقي
د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر


" افغانستان د ستراتیژیک موقعیت، پراخو طبیعي زېرمو او ارزانه او خواریکښ بشري ځواک په لرلو سره د واحد امنیت او مخلصانه سیاسي هوډ په سیوري کې د پانګونې بې مثاله فرصت دی. دا فرصت زموږ له ملي حاکمیت او مشروع ګټو پرته هیڅ حدود نه لري.
د دې وخت را رسېدلی چې نړۍ د افغانستان په بې امنیتۍ او بې ثباتۍ کې د پانګونې پر ځای د افغانستان په ثبات کې پانګونه وکړي. ثبات د ټولو په ګټه دی. او بې ثباتي د ټولو په تاوان."




۱۱



+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انفوگرافیک



وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
Over the past year, MoFA has been able to facilitate the transparent activities of numerous welfare and charitable organizations in Afghanistan without the interference of the Afghan government.
FM Mutaqqi
Annual Report Presentation



وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
The MoFA efforts have led to the export of Afghan Dried and Fresh Fruit through land and air. Also, the foundation has been laid for numerous investors to invest in Afghanistan.
FM Mutaqqi
Annual Report Presentation


وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
We have been in close contact with China and India and have followed up on the issues regarding Afghan students. We have collected 509 scholarships for students from various countries.
FM Mutaqqi
Annual Report Presentation


وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
Following the independence achieved on August 15th with the sheer dent of the struggle and hardships of 20 years, the Ministry of Foreign Affairs made serious efforts to organize all its affairs and to start the functioning of all departments of the Ministry, keeping the Afghan border open with all neighbouring countries for goods and people movments.
FM Mutaqqi
Annual Report Presentation

# انځوریزې ویناوې











# انفوگرافیک


ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
"The United States has recently informed us regarding the conditional release of $3.5 billion, but we are still making serious efforts towards unconditional release of the rest of $7 billion.
FM Mutaqqi



ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
"About 100000 passports to the Afghans residing in Dubai, 10000 certificates of non-criminal liability to Afghans living in Jeddah & 1500 visas to foreign nationals have been issued, and laid groundwork for the dignified return of 800000 Afghan immigrants.
FM Mutaqqi


ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
"We are stunned by the precondition of inclusivity when it comes to recognition of the Afghan government, while such conditions are not made for recognition of other governments, including those formed as a result of military coups.
FM Mutaqqi


ISLAMIC EMIRATE of AFGHANISTAN MINISTRY of FOREIGN AFFAIRS
وزارت امور خارجه
Ministry of Foreign Affairs
"For raising further fund, fundraiser has been organised recently with having participants, representing various neighbouring countries and international aid organizations, who pledged to cooperate in dealing with the crisis.
FM Mutaqqi

# انځوریزې وېناوې













+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انفوگرافیک
















+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg


# انځوريزې ويناوې









# انفوگرافیک

"
مونږ ته د داسې تګلارې اړتیا ده، چې پر بوره تدبیر، احتیاط ا و علمي څېړنو ولاړه وي.

We need a strategy that is based on planning, caution, and scientific research.

FM MUTTAQI

"
مشکلات هوارول غواړي مګر په ډېر احتیاط سره داسې کارونه باید ونه شي چې سړی بېرته شاتګ ته اړشي له داسې څرګندونو باید ډډه وشي چې نورې ستونزې زېږوي.

Problems should be resolved, however carefully. Such things should not be done that make the person back off, and such statements should be avoided that cause other problems.

FM MUTTAQI
"



"
افغانستان کې څو لسیزې جګړه تېره شوې، هر څه په یوه ورځ نه سمېږي، بلکې پړاوېز کار ته اړتیا ده او د دې اړتیا ده چې خلکو ته د پرمختګ زمینه برابره شي.

Afghanistan has gone through several decades of war; everything cannot be fixed in one day, but it is necessary to worb gradually, and the people must be provided opportunities for progress.

FM MUTTAQI



"
له داخلي اختلافاتو خلاصون، او له نړۍ سره له ټکره وتل د هېواد جوړونې یوازینۍ لاره ده. زمونږ هېواد باید نور د نورو هېوادونو د ټکر میدان نه وي، بلکې د هغوی منافع زمونږ له منافعو پورې وتړل شي.

Getting rid of internal differences and getting out of conflict with the world is the only way to build a country. Our country should no longer be a conflict field for others, but their interests should be tied to ours.

FM MUTTAQI





+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انځوریزې وېناوې

"

حکومتونه خلکو ته ډوډۍ نه ورکوي، بلکې د تعلیم، کار، سوداګرۍ فرصتونه ور ته برابروي.

Governments do not give food to the people, but provide opportunities for education, work, and business.

FM MUTTAQI



"

احساسات باید د پالیسي تابع وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو د جذبو پر مثالونو تاریخونه ډک دي، مګر دهغوی جذبات د رسول الله د پالیسي تابع وو.

Emotions should be led by the policy. History is full of examples of the passions of the Companions of the Messenger of Allah, may God bless him and grant him peace, but these passions were subject to the policy of the Prophet.

FM MUTTAQI



"

په افغانستان کې هغه نظامونه ناکام شوي چې پردیو افکارو، جذباتو او شخصي مزاجونو د تحمیل هڅه یې کوله. یوازې هغه نظامونه د کامیابۍ چانس لري چې د خلکو ټولنیز او فکري ملحوظات په پام کې ونیسي.

Those systems that tried to impose foreign thoughts, emotions, and personal interests have failed in Afghanistan. Only those who have a chance of success take into account the social and intellectual considerations of the people.

FM MUTTAQI




FM MUTTAQI

خلک زمونږ په شکلونو نه دي مئین، خلک کار غواړي. مونږ چې د خپل کوچني خوکسیز کور له پاره څومره کار کوو، باید د لوی کور هېواد مصالح او ضرورتونه هم په پام کې ونیسو، که نه د قیامت په ورځ به حساب ډېر سخت وي.

People are not particularly in love with our looks, they want services provided. No matter how much we work for our small family, we should also consider the interests and needs of the big family, otherwise, the reckoning will be very difficult on the Day of Judgment.

# انفوگرافیک















+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# انځوریزې ویناوې











+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# د مني فصل ټویټونه



# د مني فصل/فصل خزان

[تله/میزان]

خبرونه — اخبار

## twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Sep 24, 2022

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلی په ۷۷ مه ناسته کې د افغانستان په تړاو د ځینو هیوادونو د اندېښنو په اړه د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه.


د افغانستان اسلامي امارت
د بهرنیو چارو وزارت — وزارت امور خارجه

**د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلی په ۷۷مه ناسته کې د افغانستان په تړاو د ځینو هیوادونو د اندیښنو په اړه د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه**

د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلی په ۷۷مه ناسته کې د امریکا او پاکستان په شمول ځینو هیوادونو د افغانستان په اړه اندیښنه وښودله چې ګواکې له افغانستانه اوس هم د ترهګرۍ خطر موجود دی.
دا اندیښنې په داسې حال کې ښودل کیږي، چې تر دې دمه دغو لوریو په ملګرو ملتونو کې د افغانستان څوکۍ، چې د افغان حکومت حقوقي او سیاسي حق دی، ورکولو ته تیار شوي نه دي. دغه اندیښنې پر ناسمو معلوماتو او سرچینو ولاړې دي.
که افغان حکومت ته یې دغه حق ورکړل شي، دا به یو فرصت وي تر څو هغه واقعیتونه چې په افغانستان کې د مګړي موجود دي، له سیمې او نړۍ سره شریک شي، بیا به یې هیڅ ډول اندیښنې ته ځای پاتې نه شي.
اسلامي امارت یو ځل بیا دا اندیښنې ردوي او خپل موقف نړیوالو ته واضح کوي، چې د افغانستان خاوره به هیڅکله د چا پرضد ونه کارول شي. او نه فعلا دلته کوم وسله وال ګروپ شتون لري.
نړیوال دې د بې ځایه اندیښنو او تورونو پرځای له اسلامي امارت سره د مثبت تعامل له مخې واټن تنګ وګړي او د رسنیو او اعلامیو پرځای دې خپل نظریات او اندیښنې مخامخ زموږ سره شریکې کړي.

mofaafg — mofa.gov.af

## twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Sep 24, 2022

مأموریت تیم تخنیکی قطر در میدان هوایی کابل موفقانه به پایان رسید.


امارت اسلامی افغانستان
د بهرنیو چارو وزارت — وزارت امور خارجه

امارت اسلامی افغانستان از کشور دوست و برادر قطر به‌خاطر نقش مهمی که پس از فتح در بازگشایی و فعال نگه‌داشتن میدان هوایی ایفا نموده است، تشکری می کند.
اینکه مأموریت تیم تخنیکی قطر در میدان هوایی کابل موفقانه به پایان رسید، وزارت امور خارجه به نمایندگی از تمامی افغان‌ها، این مأموریت بشردوستانهٔ قطر را در چنین مرحلهٔ مهم تاریخی فراموش ناشدنی می‌پندارد. کشور قطر همواره ثابت کرده است که مانند برادر، در شرایط دشوار در کنار افغانستان ایستاده است. کمک‌های تخنیکی و بشردوستانهٔ قطر با افغانستان برای همیش درج صفحات تاریخ خواهد ماند. دوستی و همکاری ما با یکدیگر دوامدار خواهد بود، ان شاء الله تعالی.

mofaafg — mofa.gov.af

## twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Sep 26, 2022

د نوي افغان حکومت یو کلن فعالیت، د کابل پخواني اداري د کړنو او د اوسني افغانستان وضعیت د سیمې په پرتله د بهرنیو چارو د وزیر له خولې اوریدلی شئ.
افغانستان وضیعت ته باید د انصاف په تله وکتل شي او د پرمختللي هیوادونو سره پرتله نشي؛ ځکه دلته دوه زبرځواکه پر شا تمبول شوي، دوه میلونه انسانان وژل شوي او په میلونو نور بې کوره شوي، د دې هیواد ډیرې استعدادونه وژل شوي او یا کډه شوي...



## twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Sep 27, 2022

دا تاریخ سازه ده، چې شل کاله په غرونو کې جنګېدلي مجاهدین اوس په منظمه اردو او استخباراتي ځواک بدل شوي.






+93202100372 | publications@mfa.gov.af | mfa.gov.af | @mofa_afg

# د مني فصل/فصل خزان

[ تله/میزان ]

خبرونه — اخبار

twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Sep 28, 2022

د بهرنیو چارو وزیر: که هر څوک د افغانستان خاوره د چا په ضد وکاروي مجازات کېږي به، د افغانستان ثبات د سیمې په ګټه دی او ځینې مغرضې کړۍ دي چې غواړي افغانستان په انزوا کې وساتي. نوموړي په نړیوالو او رسنیو ږغ کړی چې د افغانستان وضعیت په حقیقي ډول تعبیر کړي.



twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 1, 2022

په هیواد کې د وروستیو پیښو او د بهرنیو اړخونو د غیر مسؤلانه څرګندونو په اړه د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه.



د افغانستان اسلامي امارت

د بهرنیو چارو وزارت — وزارت امور خارجه

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت وروستي پیښې چې د شریرو کړیو له خوا پر مساجدو، تعلیمي مراکزو او نورو عامه ځایونو ترسره شوي دي، د افغان ولس د دښمنانو له خوا یوه دسیسه بولي او د پیښو له قربانیانو سره خپله ژوره غمشریکي ښيي.

اسلامي امارت په هیڅ دول د افغان ولس پر قومي او مذهبي ویش باور نه لري او ځان د ټولو افغانانو د ژوند د ساتنې مسؤول بولي. له نیکه مرغه، افغانستان د ډېرو پېړیو راهیسې سره، په سیمه کې مثالي مذهبي او ملي وفاق لري.

زموږ علماء او ولس د فرقه يي بېلتون اچوونکو کړیو د ناکامو هڅو په اړه ویښ دي او هیڅ جهت ته به اجازه ورنه کړي چې ترمنځ يې مذهبي، قومي، ژبني او سمتي تفرقې او تعصبونه ایجاد کړي.

په داسې حال کې چې خپلو ټولو هیوادوالو ته د یووالي او نورو ورته پیښو د مرتکبینو د پیدا کولو او د قانون منګولو ته د سپارلو د لا زیات کوښښ وعده ورکوو، ټولو بهرنیو اړخونو ته د افغانستان د کورنیو مسائلو په اړه له خواخوږۍ هاخوا له غیرمسؤولانه څرګندونو څخه د ډډې کولو جدي سپارښتنه کوو.

هر څوک چې په افغانستان کې ملي نفاق ته لمن وهي، هغوی زموږ له متحد ملت سره جفا او له اخلاقي پولو تیری کوي او د خپلو نامشروع کتو لپاره ناکامې هڅې کوي.

mofaAfg · mofa.gov.af

twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Oct 2, 2022

په هیواد کې د وروستیو پیښو او د بهرنیو اړخونو د غیر مسؤلانه څرګندونو په اړه د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه.




twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 3, 2022

The special representative of EU to Afghanistan, Tomas Niklasson, & accompanying delegation called on FM Maulvi Amir Khan Muttaqi. At the meeting, Mr. Niklasson condemned the attack on Kaj educational center in Kabul & called it an attack against Afghans. He said the EU, US & partners have concluded that humanitarian aid alone cannot solve the economic problems in Afghanistan & there remains a need for development work. Referring to sanctions on Afghanistan, the EU delegation added that Afghans should not face collective punishment as this measure is counterproductive for peace & combatting insecurity. FM Muttaqi said ISIS & similar groups have been hit hard in Afghanistan & lack direct confrontation capabilities, hence are now targeting defenseless civilians. Taking the existing circumstances into consideration, Mr Muttaqi said, that realities should be acknowledged & engagement with one another should be conducted its light Elaborating further, Mr. Muttaqi said that we have had many achievements which the West has overlooked & not responded to positively, therefore we must define a clear pathway for positive engagement and moving forward.



# د مني فصل/فصل خزان

[ تله/میزان ]

خبرونه — اخبار


twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 11, 2022

The UN Special Rapporteur on the situation of Human Rights in Afghanistan & accompanying delegation called on IEA Foreign Minister Mawlawi Amir Khan Muttaqi.

FM Muttaqi elaborated the human rights situation in Afghanistan, stating that warlords, kidnappers & usurpers can no longer violate anyone's rights. The IEA Supreme Leader stresses upon government officials in decrees & meetings to treat the people well & grant them their rights

FM Muttaqi said instead of criticizing one another, we should work together, publish facts & build on the progress made. Appreciating the information & elaboration by FM Muttaqi, Mr. Bennett said that in order to express & report the situation factually, he must see everything to end, Minister Muttaqi assured Mr. Bennett of the efforts and commitment of all IEA institutions to further improve the human rights situation



twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 12, 2022

The Ministry of Foreign Affairs of IEA considers the recent announcement but US State Department to impose visa restrictions on some IEA officials as an impediment to the development of relations between the two states. This announcement is made on the heels of detailed discussions held by senior officials of both sides at varying levels with respect to almost all major issues in Doha this week.

Considering the recent talks in Doha, the United States should take positive steps and show in practice that it is seeking constructive engagement with the Islamic Emirate.

Such decisions can adversely affect bilateral relations. All disputes should be resolved through diplomatic channels and decisions that do not serve the interest of the two sides should be reviewed.




twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 12, 2022

پرون د بهرنیو چارو له وزیر مولوي امیرخان متقي سره په کابل کې د جاپان هېواد سفیر ښاغلي تاکاشي اوکادا وکتل. په دې کتنه کې متقي صاحب د جاپان له بشري مرستو څخه د منني ترڅنګ له افغانستان سره د زیربنایي پروژو په برخه کې د دغه هېواد د همکاریو غوښتنه وکړه او د ډاکټر ناکامورا د نیمګړو پروژو په پیلولو یې ټینګار وکړ. همدارنګه د بهرنیو چارو وزیر په اقتصادي برخو کې د افغانستان د اسلامي امارت د لاسته راوړنو، له بهرنیو مرستو پرته د دولت د بودیجې تصویب، د عوایدو راټولولو، له نشه‌یي توکو سره د مبارزې، روږدو کسانو د درملنې او بشري حقونو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې.

په پای کې د جاپان سفیر په بېلابېلو برخو کې د افغانستان له خلکو سره د خپل هېواد د همکاریو د دوام ډاډ ورکړ او د بشري حقونو په برخه کې یې په لازیاتي توجه ټینګار وکړ.



twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Oct 12, 2022

د بهرنیو چارو وزارت د سیمه ییزو همکاریو ریاست په هڅو د سیمه ییزو سازمانونو او پلټفورمونو (سارک، ایکو، شانګهای، د آسیا زړه-استانبول پروسه، د آسیا همکاریو ډیالوګ، کولمبو پلان، کاریک، سیکا، سپېکا، او سردپ) په اډانه کې د غړیو هېوادونو ترمنځ د باور فضا رامنځته کولو او یادو میکانیزمونو سره د اړیکو بیا پیل په موخه د اړوند ملي اداراتو سره د همغږۍ ناسته ترڅ عنوان لاندې (افغانستان د سیمه ییز پیوستون څلور لاره؛ د فرصتونو ایجاد، پر ننګونو برلاسې او د سیمې د ټیکاو او هوساینې پر لور ګام) ترسره شوه. په یاده ناسته کې د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د سیمه ییزو سازمانونو د اهمیت په اړه خبرې وکړې. نوموړي زیاته کړه چې افغانستان د سیمه ییز پیوستون د څلور لارې حیثیت لري، همدې لپاره سیمه ییزه همکاري د افغانستان د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست یو له مهمو محورونو څخه ده. موږ پدې باور یو چې سیمه ییزې همکارۍ نه یوازې د اقتصادي پرمختګ لامل کیږي، بلکه د هېوادونو تر منځ د تلپاتې سولې او هوساینې لامل هم ګرځي. همدا ډول، د غونډې ګډون کوونکو د یادو سازمانونو سره د اړیکو بیا پیلولو پر اهمیت او یادې موخې ته د رسېدو لپاره یې په داخلي همغږۍ او همکارۍ ټینګار وکړ. او دا ډول غونډې یې یو مثبت پرمختګ وباله، د دوام او تعقیب غوښتنه یې وکړه.



# د مني فصل/فصل خزان

[تله/میزان]

خبرونه — اخبار

Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 13, 2022

آقای اسد عباس، شارژدافیر سفارت پاکستان در کابل با محترم شیر محمد عباس ستانکزی، معین سیاسی وزارت امور خارجه ملاقات نمود.
آقای ستانکزی ضمن ابراز مراتب تسلیت به خاطر سیلاب‌زدگان در پاکستان، از آن‌کشور به‌خاطر میزبانی از ملیون‌ها افغان از چهار دهه بدینسو سپاس گزاری نمود، آقای ستانکزی افزود که ما نمی‌خواهیم روابط میان دو کشور خدشه‌دار شود و سؤتفاهم‌هایی که ایجاد می‌شود، نمی‌تواند روابط میان دو کشور را تخریب کند. شارژدافیر سفارت پاکستان گفت که پاکستان با افغانستان ارزش‌های مشترک و روابط ناگسستنی دارد، و مشکلات میان دوکشور ناشی از سؤتفاهم می‌باشد. وی همچنان گفت که پاکستان در مقایسه با دیگران، برای افغانستان در بخش تجارتی و سایر عرصه‌ها سهولت‌های زیادی فراهم نموده است و بدین منظور، راه تورخم به‌طور ۲٤ ساعته بروی دادوستد تجارتی باز است. آقای ستانکزی گفت که بعضی اوقات مقامات پاکستانی درمورد ما چنان اظهاراتی ابراز می‌کنند که باعث آزردگی می‌شود و دوطرف باید به آن توجه جدی کنند. شارژدافیر سفارت پاکستان وعده سپرد تا مشکلات موجود را حل کند و بهبود روابط دو کشور را مسوولیت این سفارت خواند.



Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 15, 2022

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي ننګرهار کي د بهرنیو چارو وزارت له استازولی څخه لیدنه وکړه او د چارو د لاښه والي په موخه يې له مسئولینو سره ګډه غونډه تر سره کړه.



Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 15, 2022

نن له غرمې وروسته د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي سره په کابل کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ نوې مشرې آغلې روزا اوتونبایوا وکتل .په پیل کې د بهرنیو چارو وزیر آغلې روزا اوتونبایوا ته په افغانستان کې د کار د پیل له امله مبارکي ووېله، د همکارۍ ډاډ یې ورکړ او زیاته یې کړه چې له خپلې اوږدې تجربې څخه په افغانستان کې د کار پرمهال ګټه پورته کړي .د بهرنیو چارو وزیر ووېل، چې اوس د دې وخت دی چې نړۍ او افغانستان یو بل سره نژدې شي او یو د بل شرایط، لومړیتوبونه او غوښتنې درک کړي او یوناما دا کار ښه کولای شي. آغلې اوتونبایوا د خپلو خبرو په پیل کې مننه وکړه، چې د افغانستان حکومت ورته د ښه کار شرایط برابر کړي دي .د یوناما مشرې ووېل، یوناما ستاسې او د نړۍ ترمنځ د پله کار کوي او موږ به خپله نهایي هڅه وکړو چې ستاسې پیغام نړۍ ته ورسوو چې افغانستان څنګه بیاورغوو. آغلې اوتونبایوا د پلازمېنې کابل په ګډون په ځینو ښارونو کې د افغان حکومت له خوا د بیارغونې د ځینو پروژو د پیل ستاینه وکړه .د یوناما مشرې همداراز ووېل، چې یوناما به خپله ټوله هڅه وکړي چې افغان فنډ بیا ژوندی کړي تر څو د باور وړ بانک پیدا کړي...



Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 15, 2022

The Ministry of Foreign Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan expresses its condolences to the people and government of Türkiye due to the explosion in the coal mine in Burtin, Türkiye, which has resulted in the death of nearly forty and the injury of dozens of workers.
We pray for the swift recovery of the injured and hope that the workers trapped in the mine will be rescued safely



# د مني فصل/فصل خزان

خبرونه [تله/میزان] اخبار

twitter

Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 18, 2022

امروز آقای ایلوا فیلیون، رئیس کمیتهٔ بین‌المللی صلیب سرخ در افغانستان با محترم شیر محمد عباس ستانکزی، معین سیاسی وزارت امور خارجه ملاقات نمود . در آغاز، آقای فیلیون پیرامون فعالیت‌های این کمیته در افغانستان معلومات ارائه نمود و گفت که این سازمان، پس از اوکراین بزرگ ترین عملیات در سطح جهان را در افغانستان دارد. وی گفت که در کنار ارائهٔ خدمات مربوط به شفاخانه‌ها، ادارات آموزشی صحی و توقیف‌خانه‌ها، فعالیت خویش را در بخش‌های آب و انرژی، زراعت و کمک‌های بشردوستانه نیز گسترش می‌دهد. آقای فیلیون افزود که امسال فعالیت‌های خویش در افغانستان را دو برابر کرده اند و قصد دارند آنرا در سال ۲۰۲۳ نیز به همین سطح نگه دارند. آقای ستانکزی از کمک‌های کمیتهٔ بین‌المللی صلیب سرخ سپاس‌گزاری نمود و خواهان ادامهٔ کمک‌های این سازمان با مردم افغانستان الی حل مشکل اقتصادی در کشور شد. آقای ستانکزی همچنان به نمایندگی از امارت اسلامی افغانستان، از فراهم نمودن محیط مناسب برای پیشبرد بهتر فعالیت‌های این سازمان اطمینان داد.

twitter

Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 19, 2022

د متحده عربي اماراتو په ابوظبی کې د سترې محکمې د پخواني مشر، قانونپوه سید محمد یوسف حلیم د مړینې خبر له خپرېدو سره سم، د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو وزارت مقام په دغه هېواد کې د ا. ا. سفارت ته هدایت ورکړی، چې وطن ته د جنازې د لېږد په اړه، د مرحوم د کورنۍ له غړو سره په همغږۍ،لازمې کړنې ترسره کړي، تر څو د متوفی د تجهیز، تکفین او تدفین مراسم په وطن کې له اسلامي او افغاني رسم سره سم ترسره شي.

twitter

Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 22, 2022

Wrapping up his visit to Afghanistan, the UN Special Rapporteur on the situation of Human Rights in Afghanistan, Richard Bennett & accompanying delegation called on Deputy Foreign Minister Sher Mohammad Abbas Stanekzai.
Mr. Bennett thanked MoFA for providing them with travel facilities & open access to sites. Welcoming Mr. Bennett, DFM Stanekzai said that HR issues exist everywhere, from our neighboring to European countries, whereas Afghanistan has just come out of a near half-a-century war.
Referring to problems of the previous administration, he said that compared to the past, the rate of suicide & extrajudicial killings of women, kidnapping & torture in prisons has dropped to zero.
Mr. Stanekzai also urged UN support in resolving economic challenges, banking restrictions, treatment of drug addicts & other problems. To end, Mr. Bennett pledged to talk with donor states to provide assistance towards ending poverty in Afghanistan.



twitter

Abdul Qahar Balkhi @QaharBalkhi · Oct 23, 2022

واکنش امارت اسلامی افغانستان در رابطه به طفل افغان که توسط یک عضو نیروی دریایی امریکا از نزد اقارب وی در ایالت ویرجینیا به زور گرفته شده است.



امارت اسلامی افغانستان

د بهرنیو چارو وزارت | وزارت امور خارجه

بر اساس معلومات از منابع معتبر، جوشوا ماست، عضو نیروهای دریایی امریکا که در نتیجهٔ بمبارد آنها در افغانستان اعضای یک خانوادهٔ افغان شهید شده بود، اکنون یگانه طفل باقی‌ماندهٔ آن خانواده را در ایالت ویرجینیا از نزد اقارب وی به زور گرفته و به‌عنوان عضو خانوادهٔ خود نگه می‌دارد.

وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا این قضیه را نگران‌کننده، دور از کرامت انسانی و عمل ضد بشری می‌داند و این موضوع را با مقامات امریکایی به‌طور جدی تعقیب خواهد کرد تا طفل یادشده دوباره به اقاربش سپرده شود.

قابل ذکر است که صدها هزار افغان، به شمول دهها طفل، که به‌طور نامناسب توسط امریکا و متحدان آن از کشور بیرون کشیده شده اند، اکنون درکمپ‌های مختلف در وضعیت بی‌سرنوشتی و محروم از حقوق انسانی نگه‌داری می‌شوند.

وزارت امور خارجهٔ ا.ا.ا از کشورهای یادشده می‌خواهد که حقوق بشری و قانونی مهاجرین افغان را با درنظرداشت قوانین بین‌المللی مهاجرت و از طریق خدمات قونسلی تأمین کنند.

# د مني فصل/فصل خزان

[لړم/عقرب]

خبرونه — اخبار

twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Oct 23, 2022

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د کرنې وزارت د کرنیزو محصولاتو له خزانې
نندارتون څخه لیدنه وکړه.



twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Oct 23, 2022

د امریکا متحده ایالتونو په ویرجینا ایالت کې د امریکایي سمندري ځواک
د یوه عسکر لخوا د افغان ماشومې د یرغمل کېدو په هکله د بهرنیو چارو
وزارت غبرګون.



twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Oct 24, 2022

پرون د ا. ا. ا. د بهرنیو چارو وزارت په ستوري ماڼۍ کې، د بهرنیو چارو وزیر
مولوي امیر خان متقي، مالي او اداري معین مولوي رحمت الحق فُضیل او د
اقتصاد وزارت معین ډاکټر عبداللطیف نظري او د هېواد، سیاسي او
متخصصو شخصیتونو ترمنځ د افغانستان پر یو کلن دیپلوماتیک مزل،لوړو
ژورو او فرصتونو هراړخیز علمي او تخصصي بحث وشو. په پای کې د بهرنیو
چارو وزیر ډاډ ورکړ چې ا. ا. د متعهدو متخصصینو سره ورته ناستو ته ادامه
ورکوي، نظریاتو ته په درنه ګورې او ترې ګټه پورته کوي.



twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 26, 2022

د ترکیې علماء وفد د بهرنیو چارو له سرپرت وزیر مولوي امیرخان متقي سره
ناسته ترسره کړه. د ترکیې څخه راغلو علماء کرامو په ناسته کې په
افغانستان کې په راغلي اسلامي نظام او امن خوښي څرګنده او د اسلامي
امارت د بري راز یې اتفاق او تقوی وبلله، علماءکرامو ژمنه وکړه چې په
افغانستان کې دښه اْمنیت، اسلامي نظام او ښته فرصتونو د صورتحال انځور
به د نړۍ مسلمانانو ته ورسوي. د بهرنیو چارو وزیر د علماء کرامو وفدته د
هرکلي ترڅنګ افغانستان ته د دوی راتګ مفید وباله، د ترکیې او افغان
ولسونو او علماء کرامو ترمنځ یې په قوي او منظمې رابطې ټینګار وکړ.



# د منی فصل/فصل خزان

[لړم/عقرب]

خبرونه — اخبار

twitter

**Ministry Of Foreign Affairs -Afghanistan** @MoFa.Afg Jan 30 2023

د بشر حقونو او بشريِ وضعيت د څار ادارو او اشخاصو د غير قانوني او غير علمي راپورونو، غونډو او څرګندونو په هکله د بهرنيو چارو وزارت اعلاميه.



twitter

**Ministry Of Foreign Affairs -Afghanistan** @MoFa.Afg Jan 30 2023

Reports founded on anecdotes, unverifiable sources and malicious personal emails contravene all scientific and professional fact-finding methods, and hold no value.



twitter

**Abdul Qahar Balkhi** @QaharBalkhi · Oct 22, 2022

د بهرنيو چارو وزارت د ډيپلوماسۍ رياست فعاليتونه.



twitter

**Hafiz Zia Ahmad** @HafizZiaAhmad1 · Nov 1, 2022

چې ونه وهې په دواړو لاسو توره چا ملکونه په میراث موندلي ندي.
